# پښتو فولکلوریک ادب کې د لونګ او لونګین ارزښت

لیکوال: پوهنیار تاج محمد رحیمي
پنجشېر د لوړو زده کړو مؤسسې پښتو څانګې استاد

## Conclusion:

Clove and a Bunch of Cloves is one of the essential and exciting ornaments. In almost all Pashtun girls are related to this. This clove made a special place in Pashto Oral Literature. Every genre of Oral Pashto Literature reminds us of this natural beauty of clove and a bunch of cloves. Clove shows it import ants when a girl makes and wears a bunch of cloves when she goes to the groom’s house. As it has an essential place in all over the world. Some people use it as medicine and spice, but Pashtun girls use it as ornament and beauty. In some areas, when a girl gets merry, she should have to have two or three bunches of clove or should buy from the bazaar. AS in a poem, she says,’’ O my lover brings me some cloves, it is the custom I made a bunch of cloves as an ornament”. It means that in some places, cloves keep by people as a custom. The black color and pleasant aroma show its importance. When a Pashtun girl gets merry, she makes a bunch of cloves for an ornament called ‘Lawangeen’ and puts it in a handkerchief with her make up tools. To sum up, a clove and a Bunch of Cloves is the great ornament of Pashtun girls. Always Pashtun girls use clove in their oral literature. In a poem, she says, “O my beloved if you cannot find it near here then go far away and bring me the plant of clove.”

## لنډیز:

لونګ او لونګین د عام ولس د سینګار توکو او ګاڼو له ډلې څخه یو ډېر ارزښت ناک او په زړه پورې څیز دی.په ټولو پښتنو سیمو کې د پښتنو پېغلو او نجونو اړیکه په یو نه یو ډول له لونګ او لونګین سره تړلې ده.همدا لامل دی،چې په پښتو شفاهي ادب کې یې ځانله ځای پیدا کړی دی.د پښتو په نالیکلي یا ولسي ادب هر ژانر کې د لونګ او لونګین یادونه شوې.د لونګ ارزښت هغه وخت ډېر وي،چې نجونې ودېږي او د خپل خاوند کور ته د تللو څخه مخکې یې د لونګو څخه په زړه پورې لونګین جوړ او په سینه ټومبلی وي.که څه هم په نوره نړۍ کې هم لونګ د ارزښت وړ دي،ځینې یې د درملو لپاره،ځینې یې په عطرو کې او ځینې یې بیا د مخ د ښکلا او غذایي مسالو کې ورګډوي او ګټه ترې اخلي،خو پښتنې نجونې یې یوازې د سینګار او ښکلا تر حده کاروي.ځینو سیمو کې چې کله نجلی ودېږي،نو هرو مرو به له ځانه سره د لونګو دوه یا درې وړې کڅوړې وړي. یعني په ځینو سیمو کې د لونګو ساتل او جوړول د یو دود په توګه کارول کېږي،د لونګ ارزښت د هغې له تور رنګ او خوږ بویی څخه ډېر ښه معلومېږي،پښتنې نجونې چې کله ودېږي مخکې له مخکې د خپل ځان لپاره د لونګو یو امیل چې لونګین ورته ویل کېږي جوړوي او د خپلو سینګار توکو سره یې په یو دسمال کې ایږدي،څو ترې خراب نه شي،نو ویلی شو،چې لونګ او لونګین که څه هم د پښتنو نجونو د سینګار یوه لویه برخه ده،چې همدا لونګ یې په بار بار په شفاهي ادب کې یاد کړي دي.لونګ او لونګین د پښتو شفاهي ادب په هر ژانر کې یاد شوی او پېغلې یې تل د تناره پر سر او د ګودر پر غاړه یادوي.

## سریزه:

پښتو ژبه یوه بډایه او غني ولسي پانګه لري،چې د نړۍ نورې ژبې ورسره سیالي نه شي کولی،پوهان په دې اند دي،چې که یو خوا پښتو ولسي ادب غني دی،خو بلخوا د پېړیو په اوږدو کې یې ځینې برخې له منځه تللي دي،همدا ولسي ادب دی،چې د پښتنو ځینې ارزښتونه یې ساتلي دي،چې یو هم په دې ارزښتونو کې لونګ او لونګین دی.که تاسو د پښتو ولسي ادب خاصې او عامې سندرې ولټوی په هر ژانر کې به تاسو ته د لونګ د بوټي،لونګ او لونګین انځورونه مخ ته راشي.پښتو شفاهي ادب دومره غني او بډایه دی،چې د پښتنو پېغلو د ارمانونو هنداره ګرځېدلې ده.کومه خبره،چې پښتنه پېغله په خوله نشي راوړی،هغه خبره یې په لنډۍ،سروکي او یا نورو ولسي ژانرو کې بیان کړې ده.لکه په یوه لنډۍ کې وایي چې:

لاس به دې وتړم په زلفو
په لونګین به دې وهم چې مړ دې کړمه

پورته خبره که په ښکاره یوه پښتنه پېغله وکړي،نو په ټولنه کې به له سختو ناخوالو سره مخ شي،خو همدا ولسي ادب دی،چې دپېغلې د خولې خبره یې زغملې او په ټولنه یې منلې ده.د لونګو کارونه په مختلفو هېوادونو کې توپیر لري،ځینې یې د دواګانو لپاره،ځینې یې د مخ د کریمونو لپاره،ځینې یې د خوراکونو د خوند جوړولو لپاره،ځینې یې د عطرونو په جوړلو کې او ځینې یې د جنسي قوې د پیاوړي کولو لپاره د کارولو غوښتنه کوي،خو پښتنه ټولنه یې بیا په دې نورو خبرو پسې نه ګرځي او یوازې یې په دې پېژني،چې لونګ او لونګین د نجونو سینګار دی او کوښښ کوي،چې ښکلی او په زړه پورې لونګین،چې ډېر لړونه او ښکلی بوی ولري جوړ کړي.په دې څېړنه کې کوښښ شوی ،چې د پښتو هغه شفاهي ژانرونه،چې په هغې کې د لونګ او لونګین یادونه شوې راټول او وړاندې شي.،د لونګ او لونګین ارزښت په ولسي ادب کې روښانه او په زړه پورې دی او بله دا،چې په دې څېړنه کې کوښښ شوی دی،چې لوستونکو ته د لونګ او لونګین ارزښت او ولسي ادبي ژانرونو کې یې د یادونې په اړه معلومات ورکړل شي.

**کاریدونکي ویي: لونګ،لونګین،د لونګ بوټی،جانان،بوی.**

## د څېړنې اهمیت:

د څېړنې ارزښت په دې کې دی،چې په شفاهي ادب کې د لونګ او لونګین یادونه شوې،په ولس کې د ډېر ارزښت او قدر وړ مقام لري.دا،چې لونګ او لونګین د ګاڼې او سینګار توکي دي او په شفاهي ادب کې یې څرنګه یادونه شوې؟دا په کې څېړل شوي او بله دا،چې د لونګ ارزښت په اړه پوره بحث او څېړنه شوې ده او نورو خلکو ته یې د ارزښت او اهمیت په اړه په کې ډېر معلومات وړاندې شوي دي.

## دڅېړنې موخه:

د دې څېړنې موخه په پښتو ولسي ادب کې د لونګو د یادونې په اړه څېړنه او پلټنه ده او په راتلونکي کې نور لیکوال دې ته هڅول دي چې په ولسي ادب کې هغه لنډۍ،سروکي یا بګټۍ چې د لونګ او لونګین یادونه په کې شوې ده راټولې او سمبال کړي.

## د څېړنې پوښتنې:

په دې څېړنه کې تر ډېره لاندې پوښتنې ځواب شوي دي.

۱- لونګ څه ډول بوټی دی؟

۲- لونګ پرته له سینګاره په نورو کومو ځایونو کې د استعمال وړ دی؟

۳- لونګین څرنګه جوړیږي؟

۴- په ولسي یا شفاهي ادب کې د لونګ او لونګین ارزښت څه دی؟

## د څېړنې میتود:

په دې څېړنه کې له ساحوي،تشریحي او توضیحي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## فولکلور:

فولکلور،چې له انګلیسي ژبې څخه اخیستل شوې کلمه ده،په لغت کې فولک خلکو ته او لور د پوهې په معنی سره راغلې ده.د خلکو څخه مراد ولسي خلک دي.یا فولکلور د هغو ولسي خلکو پوهه ده،چې تر ډېره یې سواد نه وي. (۵ – ۱۵ )

دا،چې زموږ موضوع په پښتو شفافي یا فولکوریک ادب کې د لونګ او لونګین ارزښت دی،نو دلته په همدې تعریف بسنه کوو،ځکه چې د فولکلور بحث ډېر لوی دی.پښتو شفافعي ادبیات هغه ادبیات دي،چې سینه په سینه،خوله په خوله له یوه نسله بل نسل ته رارسېدلي دي،چې په دې شفاهي ادبیاتو کې لنډۍ،بګټۍ،غاړې،پېراکې،سروکي،چاربیتې،کسرونه،مقام او نور ډېر اړخونه په خپله غېږ کې رانغاړي،خو دلته په ځینو برخو،چې د لونګ او لونګین یادونه شوې ده په دې موضوع کې خاص هماغه برخې تر بحث لاندې نیول شوي دي او هغه نثري برخې یې زموږ د بحث موضوع نه ده.

## لونګ:

لونګ هغه دانه ده،چې تور یا قهوه یي رنګ لري په پښتو ژبه کې ورته لونګ، عربي ژبه کې ورته القرنفل ،دري ژبه کې ورته میخک،په اردو یا هندي پنجابي ژبه کې هم ورته لونګ، په انګلیسي ژبه کې ورته clove،په ترکي ژبه کې ورته کارانفیل ویل کېږي. لونګ په اومه یا خام حالت کې تر ډېره شنه او سره ښکاري.دا بوټی تر ډېره په اندونیزیا او مالیزیا کې شهرت لري او ډېر پخوا ترې کار اخیستل کېده.ویل کیږي،چې په دې هېوادونو کې خلک د لونګو سګرټ هم څکوي. لونګ داسې یو بوټی دی،چې اوړی ژمی تازه او شین وي او د خزان اثر پرې نه وي.لکه رحمن بابا چې وایي:

لکه ونه مستقیم په خپل مکان یم
که خزان راباندې راشي که بهار

لونګ هم همداسي یو بوټی یا ونه ده. د لونګو ونـه تـر ۱۲ مترو لوړ قد لري،پاڼي یې لویې او ګلونه یې د انګورو د خوشي په شکل وي. دا ګل غوټۍ په لومړي سره کې سپینه ،بیا ورو ورو شنه او ورپسې تیز سور رنګ خپلوي.د دې په سر کې څلور وړې پاڼي وي،چې بندې او د یو غونډاري په شکل ښکاري.غوټۍ یې چې کله یو نیم یا دوه سانتي متره اوږده شي، نو بیا ځان خلاصوي.د نړۍ تر ټولو زاړه لونګ په سوریه کې په یو لوښي کې وموندل شول.چې له ۱۷۲۱ ق م نه راپاتې وو.ښایي هغه وخت دا لونـګ د ترکـې د لارې عرب تجارانو د هند او یا نـورو جزیرو نه وړي وي، همدارنګه د اندونیزیا د مالوکو جزیرې کې د لونګو درې او څلور سوه کاله پخوانۍ ونـې اوس هم شته.په اولسمې میلادي پېړۍ کـې د هالینډ (ډیچ) بحري تجارانو ورباندې خیټه واچوله.بل چا دا د ماکلو نه بهر نشو وړلی او که ځایي اوسیدونکو پـه پټه دا کـار وکړو نو وژل به یې.په ۱۷۷۰ م یو فرانسوي د هغې ونې نه د لونګ غلا کول پیل کړل او ډېر وخت یې دا کار وکړ لومړی یې فرانسې او بیا یې زنجبار ته یوړل،هلته یې وکرل چې بیا ټولې نړۍ ته ورسېدل.لونګ په خواړو کې د خوشبویي نـه عـلاوه د چین او هند پـه دودیزه داروګانو کې هم کارول کېږي.د لونګو نه تیل،عطر،د غاښ د درد ، د خیټې د ګرمولو او د تبې د کمولو لپاره کار اخیستل کېږي.د لونګو پوډر د مېږیو د وژولو او د میاشو دشړلو لپاره هم کـارول کېږي. ( ۳ )

د اسیاپه سویلي هېوادونو کې تر ډېره د لونګ څخه د مسالحې لپاره کار اخلي.د لونـګ بوټی،چې ډېر د ارزښت وړ دی.لونګ که له رنګ تور دی،خو بوی یې بیا د هر چا په ذهن او زړه کې ځای لري.لونګ ډېر ښه بوی لري،چې ترې پـه زیـاتره پـه خوړو،چـایو، عطرونـو او د زینت او ښکلا لپاره کارول کېږي.د افغانستان په سویلي ولایاتو لکه خوست،پکتیا او پکتیکا کې خلک د لونګ د ښکلا او خوشبویۍ لپاره ترې ګټه اخلي.په یادو ولایتونو کې یې پېغلې او نـاوې د زینت لپاره کـاروي.پیغلې او نـاوې لـه لونګو څخـه ځونـډي جوړوي،چې بیـا یـې پـر کمیس ټومبي.په خوست ولایت کې،چې کله ناوې د خاوند کور ته ځي،نو د کلي یوه ښځه ترې د سر نه د ناویتوب شنه او سره ځادرونه لرې کوي او بیا هغې ښځې ته د دود په توګه دوه وړې کڅورې لونګ د ډالۍ په توګه ورکوي. ( ۸ )

په ختیځو ولایاتو کې په ځانګړي ډول په ننګرهار ،کنړ او نورستان ولایتونو کـې پخوا لونګ د ګاڼې په ډول کاریدل.کله چې به یوه پیغله واده کېدلـه مخکـې لـه واده بـه نجونو ورتـه د لونګو ځونډي جوړل، چې د لونګین په نامه به یادیدل.یاد لونګین بیا د ګېډۍ په ډول د نـاوې په ټټر د نورو نجونو لخوا ټومبل کېدل.

## د لونګو د کارولو ګټې:

د لونګو د ګټو په اړه که بحث وشي کیدای شي پوره کتاب پرې ولیکل شي،خو دلتـه یـې پـه لنډه توګه په ځینو ګټو لنډ بحث کوو.د لونګو ګلان د ډېرو ښیګڼو لرونکي دي.په خونـدورو خـوړو کې ترې کار اخیستل کېږي او همدارنګه د صحت لپاره هم ګټور دي.د لونګو د استعمال ګټې په لاندې ډول دي:

۱: لونګ د خارښ او شري په درملنه کې کار اخیستل کېږي.
۲: میرمنې یې د غذا د خوندور کولو لپاره کاروي.
۳: حکیمان یې د غاښ د درد لپاره په دوا کې کاروي.
۴:د مخ د ښکلا په کریمونو کې ترې ګټه اخیستل کېږي.
۵: که په خوراک او په ځانګړي ډول په وریجو کې وکارول شي د ویښتانو پـه ساتنه کـې مهمـه ونډه لري.
۶:د جلدي امراضو لپاره په دوا کې کارول کېږي.
۷: نجونې یې د سنیګار او ښکلا لپاره کاروي.
۸: په ځینو سیمو کې د دود په ډول کارول کېږي
۹: د شکرې ناروغۍ د مخنیوي لپاره ګټور دي.

او داسي نورې بېشماره ګټې لري،خو دا چې زمونږ موضوع د ادب تر دايرې ده،نو دلته د لونګ په همدومره ګټو بسنه کوو. ( ۹)

## لونګين:

لونګين له لونګو څخه جوړه شوې هغه ګېڼې ده،چې پېغلې نجونې،کوژده شوې او نوې واده شوې ښځې يې د سينګار په بڼه جوړوي او بيا يې د ښکلا او زينت لپاره په سينه ځوړندوي.لونګين تقريباً په ټولو پښتنو سيمو کې نجونې د ګاڼې او سينګار په توګه کاروي.نجونې چې کله غواړي لونګين جوړ کړي له ډېرو مشورو او خبرو ورسته د ښکلي تور نګ او ښه بوى لونګ له پساري څخه اخلي او د اخيستو پر وخت دومره ټينګار کوي،چې دوکاندار خراب يا بې کاره لونګ ورنکړي.په ځينو سيمو کې ،چې کله نجلۍ کوژده شي،نو د کلي نورې نجونې ورته د رنګ رنګ لونګين جوړلو مشورې ورکوي او سره له مخې يې دې ته هڅوي،چې تر واده پورې يو خاص او په زړه پورې لونګين اماده کړي.کله کله،خو نجونې مخکې له مخکې خپل کوژدن ته د لونګو راوړلو فرمايش ورکوي او ورته وايي،چې:

جانانه يو خورد لونګ راوړه

د کلي دود دى لونګين ترې جوړومه

لونګين په کليوالي سيمو کې د ډېر ارزښت وړوي او د ګاڼو په شکل هم ترې ګټه اخلي.که د کومې نجلۍ لونګين نه وي او هر څومره ډېر سره ولري،خو بيا هم خلکو ته نيمګړې ښکاري.نجونې بيا لونګ په ډېر قدر ساتي او نه غواړي چې ترې خراب شي،څومره چې لونګ د ښه بوى لرونکي وي په هماغه اندازه يې لونګين هم په زړه پورې وي.لونګين د پښتنو پيغلو د سينګاراو ګاڼې لپاره ډېر د قدر وړ وي.

## د لونګين د جوړلو طريقه:

مخکې مو هم يادونه وکړه،چې پښتنې پيغلې،چې کله کوژده يا واده کوي،نو مخکې له مخکې دې ته امادګي نيسي،چې کوم ډول لونګين به جوړوي او له ډېرو سلا مشورو ورسته د لونګو د اخيستلو لپاره ځان اماده کوي.لومړى،خو نجونې کوښښ کوي،چې ښکلي رنګ او د ښکلي بوى والا لونګ واخلي،کله چې يې لونګ واخيستل د هغې لپاره خاص او ځانګړى تار وي،چې ځينې خلک ورته (ايسترچ) تار هم وايي.ياد تار چې مختلف رنګونه لکه ( سره،شنه،زېړ،ګلابي،سرچيي،نرګسي...) او نور رنګونه لري،چې زياتره د همدې لونګين لپاره کارول کېږي،تر لاسه کوي.کله چې نجونې لونګين جوړوي،يوه يا دوه شپې مخکې يې لونګ د غوا يا اوزې په شيدو کې چې اوبه په کې نه وي ګډې شوې،لمدوي او په هماغه شيدو کې يې پرېږدي او که د چا وس شيدو ته نه کېږي،نو بيا لونګ د دوه شپو لپاره په پاکو اوبو کې لمدوي.

دا کار د دې لپاره کېږي،چې لونګ نرم او خوشبويه شي او بوى يې تر ډېره وخته پاتې شي.کله چې لونګ نرم او لامده شول،نو بيا هماغه د (ايستريچ) او سونډ تار را اخلي لومړى لونګ د سونډ په تار کې يو يو دانه اچوي،ځينې نجونې چې غواړي لونګين يې ښکلى ښکاره شي بيا په تار کې يو دانه لونګ او يوه مرۍ ورزياتوي،چې له دې سره يې ښکلا زياتېږي،ځينې نجونې لس لړه او ځينې اته او کله کله زيات لړونه جوړوي،د لا ډېرې ښکلا لپاره په کې ځينې وخت له شيشو هم کار اخلي.کله چې لړونه اماده شول،نو بيا ورته له رنګ رنګ تارونو چې پورته ورته اشاره شوې ،ځوندې جوړوي او د هر لړ اخر يې يو يو ځوندى ورزياتوي،چې دې سره د لونګين ښکلا يو په دوه کېږي.د لونګين جوړولو په وخت کې ډېرې نجونې سره راټولې شي شين چاى ،پلي او ګوړه ورسره پرته وي،ځينې نجونې د خپل بخت او تخت کېسې کوي او ځينې له ځانه سره لنډۍ او سروکي زمزمه کوي.ځينې خو يې لا اند په خيالونو کې يو لوړ محل جوړې او په فکرونو او سوچونو کې تللې وي.

کله چې لونګين تيار شي،نو بيا يې په يو ښکلي رنګين دسمال کې تاو او د نجلۍ هغه بکس چې دمور يا خسرګنۍ لخوا ورته راوړل شوى وي،د نورو سينګار توکو سره يوځاى کړي او بيا د دې انتظار کوي،چې د واده ورځ يې رانږدې شي او له همدې ښکلې او په زړه پورې

ګاڼي ښخه د سينګار لپاره ګټه پورته کړي.د لونګين جوړولو طريقه په هر ځای کې خپل دود او دستور لري،خو تقريباً په ټولو پښتنو سيمو کې دا يو رواج دی.

لونګين چې پېغلې يې د ګاڼي په بڼه هم کاروي هم د ارزښت وړ بلل کېږي او اند چې ځينې وخت يې مينان د لونګين ارزښت تر ځان هم لوړ بولي او لونګين سره يو ډول پټه دښمني کوي لکه چې وايي:

ځومره خوشبخته لونګين دی
د مستو پيغلو په ټټر وهي ټالونه

کله کله لونګين ته دومره ارزښت ورکول کېږي،چې د اوړی (د ګاڼي يو ډول دی) سره په جنګ شي او د ګيلې په ژبه داسي وايي:

تور لونګين په ژړا راغی
ما ته اوړی پر سينه ځای نه راکوينه

کله چې نجونې د خپل معشوق د ديدن موقع پيدا کړي،نو بيا ورته په ناز او غوسه داسي اختارونه ورکوي،چې ته به وايې معشوق يې مظلوم او معشوقه يې ظالمه ده لکه په لاندې لنډۍ کې چې وايي:

لاس به دې وترم په زلفو
په لونګين به دې وهم چې مړ دې کړمه ( ۲ : ۲۱ )

کله،چې دوه ميينان سره يوځای شي،نو بيا خپل معشوق ته وايي،چې ډېر مه رانږدې کېږه هځې نه چې سبا درنه د لونګين بوی ځي او په خلکو کې رسوا شي لکه په لاندې لنډۍ کې چې ورته اشاره شوې ده.

ټينګه مې مه نيسه په غېږ کې
سبا به بوی د لونګين در ښخه ځينه

کله، خو نجونې په لنډيو کې دومره باريکبينه او نازک خياله شي،چې خپل معشوق ته وايي،چې د لونګين په لړ پورتي او هلته بيا د چارګل سيلونه وکړې لکه په لاندې لنډۍ کې چې ورته اشاره شوې ده.

د لونګين په لړ راخيژه
په اوړي شپه کړه د چارګل وکړه سيلونه

کله داسې هم کېږي،چې تور لونيګين خپل خاوند ته ژاړي او په سلګو سلګو کې ورته وايي،چې ستا د سينې روپۍ ما ته په سينه ځای نه راکوي او خپله خبره داسې کوي:

تور لونګين په ژړا راغی
ما له روپۍ په سينه ځای نه راکوينه ( ۱۱)

کله خو داسې هم کېږي،چې د وطن حالات انسان مجبور کړي،چې له وطنه لاړ شي،نو بيا ويناوال د خپل زړه درد په لانډۍ کې داسې بيانوي:

له مانه پاتې شوې وطنه
که چينارونه دې لونګ شي څه به يې کړمه ( ۱ : ۲۷)

هلکان کله ځان د لونګ د رنګ سره دومره نږدې او مغروره وښايي،چې د کلي د نجونو د مرګ خبره کوي او د خپل غرور انداز په لنډۍ کې داسې وايي:

يو غنم رنګ يم بل لونګ يم
ځکه د کلي جينکۍ راپسې مرينه ( ۱ : ۸۳ )

لونګين په اړه نورې ډېر لنډۍ شته،خو دلته په همدې بسنه کوو.لونګين د ګاڼي په بڼه هم کارول کېږي،کله چې نجونې د خپلې کوژدنې يا واده لپاره ګاڼه او سينګار توکي اخلي،نو لونګين به ورسره خامخا اخلي.هغه نجونې چې په ګاڼه کې لونګين نه وي،يو ډول بې سينګاره ښکاري او په ځان کې د کوم شي د کمي احساس کوي.او چې ځان سينګاروي،نو د سينګار پر وخت په سروکو کې د لونګين يادونه اړينه بولي او داسې يې يادوي:

يو پلو مې يار لونګين مې په دا بل پلو
ای وړوکيه دې پلو راواړه

## پښتو لنډیو کې د لونګ او لونګین یاد:

### لنډۍ ( ټپه ، مسره )

لنډۍ د پښتو ګړنـي یا شفاهي ادب نـامتو او مهم ډول دی،لنډۍ تـه ځینـې وخت،ټپه او مسره هم ویل کېږي.لنډۍ یوازې یو بیت وي،چې لومړۍ مسره یې (۹) څپې او دویمه مسره یې (۱۳) څپې وي.لنډۍ په همدې وړکې شکل کې ډېرې لویې کېسې او موضوعات ځای کولی شي. په نورو ژبو کې نه لیدل کېږي او یوازې د پښتوژبې یا پښتنو حق دی پرې. ( ۷ : ۳۶ ).

د لنډۍ په اړه هم ډېر زیات معلومات شته،دلته مو لنډه یادونه ځکه وکړه،چې زمونږ د موضوع برخه ده،څو لوستونکي وکولی شي،چې د لنډۍ په اړه هم لنډ معلومات تر لاسه کړي.

لونـګ،چې یو طبعـي بـوټی دی او د نـوم پـه اخیستلو سره یـې پـه ذهـن کـې یـوه وږمـه او خوشبویي انځوریږي. له ډېرې لرغونې زمانې څخه په نړۍ او په ځانګړي ډول په افغانستان کې د استعمال وړی دی. د لونګ د نوم په اوریدو سره په ذهن کې بلها خبرې ګرځي،څوک یې د صحت لپاره د کارونې په اړه خبرې کوي او څوک یې د غذاګانو د خوندور کولو لپاره،خو پښتنې پېغلې یې بیا نه د صحت له ګټې خبرې او نه یې د غذا په کارولو کې فکر کوي،خو چې کله یې په کور کې کومه خوشحالي راشي یا یې د خپل ژوند ملګري د ټاکلو وخت راشي،نو بیا په دې فکر کې شي،څرنګه لونـګ بـه اخلي او ځانلـه بـه ترې د څومره ځنډو لونګین جوړوي. همدا لامل دی،چې زیاتره نجونې د لونګ ښکلا،بوی او ارزښت پـه فولکلوریکو لنډیو کـې هم انځوروي،نو اوس به د موضوع په دې برخه کې په لنډیو کې د لونګو د یاد په اړه خبرې وکړو او وبه ګورو،چې نجونې څنګه او ولې لونګ زیات خوښوي او ډېره مینه ورسره لري.

کلـه،چې د یوې پېغلې خاونـد یـا د مینـې یار بـازار تـه ځـي او یـا نـوی پـه کاروبـار پیل کوي،نو بیا یې پېغلې په لنډیو کې داسې یادونه کوي:

اشنا مې نوی سوداګر دی
په سرباری کې به لونګ راته راوړینه

او یـا کلـه چې پـه غرونـو د وریځـو لمـن خوره شـي او پـه اسمان کـې د بـاران د راتـګ انګازه وغږیږي،نو نجونې بیا په دې فکر کې وي،څنګه د لونګو درمندونه له بارانه وساتي څو ترې خراب نه شي لکه په لاندې لنډۍ کې چې وایي:

په لویو غرو د باران شور شو
کښته لامده شول د لونګو درمندونه

لونګ یوازې د نجونو نه بلکې د هلکانو د ذوق څېز هم دی،کله چې کوم هلک کوم بـاغ ته لاړ شي او له بڼوال سره مخ شي،نو له روغبړ وروسته ورته د باغ تعریف شروع کړي او بیا په لنډۍ کې ورته داسې وایي:

د باغ دې هر بوټی لونګ دی
پرې لربېدلي دي د پیغلو پلونه

خو کله چې کومه نجلۍ د خپل معشوق سره دیدن کوي او هغې ته له نازه ډکو خبرو کې وایي،چې زه به داسې درماته شم لکه د لونګو بوټی نو بیا ورته د خپل زړه راز داسې څرګندوي:

دا بند په بند به شم درماته
په بند ماتیږي د لاچې لونګو ونه

کومه ناوې،چې د خپل معشوق او خاونـد د ډېر انتظـار وروسته د راتلو خبر تـر لاسه کړي،نو بیا ورته په ډېر ناز وایي،چې کلـه راتلې لـه مخکې احوال راکړه چې پـه پالنـګ درتـه لونګ وشیندم لکه په لاندې لنډۍ کې چې وایي:

چې ته راځې ما به خبر کړې
چې پر پالنګ لاچې لونګ وغوړومه

په پښتو ولسي ادبیاتو کې دغه بوټی تر هر بل بوټي ډېر او په خوند یاد شوی او لرغونی ارزښت او تـاریخ لري.پـه لنډیو او سندرو کـې یې پیغلـې پـه ودونـو کـې پـه سمبولیکه بڼـه هم

کاروي.معنی دا چي که کوم هلک يې سره ټاکلی وي په سندرو کې يې لونګ بولي.لونګ د خپل ښه بوی او اصل له مخې په لنډيو کې داسې ستايل شوی،چې اند د هنريت له مخې د تشبهاتو څادر هم خلاصوي.لونګ په فولکلوريک ډول د ځينو لپاره د زړه سکون او حوساينې درد دی.دغه بوټي ته د سپيڅلتيا له مخې ځانګړی ارزښت ورکوي لکه لاندې لنډيو کې چې ويل کيږي.

له کوره اوځې لونګ واخله
لونګ دوا ده د زړه درد اراموينه

لونګ د نجونو لپاره د يو دود په توګه هم پاتې شوی او کله چې نجلۍ کوژده يا واده کيږي،نو له خپل خاوند څخه د لونګو غوښتنه داسې کوي:
ځينې پيغلې بيا لونګ ته دومره ارزښت ورکوي،چې د لالي سره يې يوزای په سينه ځای کوي او د اوسيدو اجازه ورکوي لکه په لاندې لنډۍ کې چې وايي:

په سينه يو لالی ځايږي
زه لونګين او جانان دواړه ځايومه ( ١١ )

همدارنګه د لونګو د کر اوکښت په اړه هم په لنډيو کې يادونه شوې او لکه چې معشوقه لونګ کري،نو بيا يې د لو لپاره خپل معشوق راغواړي او خپله خبره ورته په لنډۍ کې داسې کوي:

لونګ کرمه لو به ګډ کړم
چې لو مې ګډ کړ ياره تا به راولمه

خو چې کله يې لالی مسافرشي او د لونګو کښت هم رسيدلی وي،نو بيا په انديښنه کې وي او خپل مسافر لالي ته داسې وايي:

دا ته چې لاړې مسافر شوې
د شنو لونګو کښت به څوک ريبي مينه

کله کله بيا داسې هم کيږي،چې ځينې خلکو لونګ نه وي بوی کړی او يا يې نه وي ليدلي،نو بيا ورته په لنډۍ کې داسې وايي:

که چا لونګ ليدلي نه وي
پيغله دې بوی کړي د لونګو بوی ترې ځينه ( ١٠ )

## په سروکو کې د لونګ او لونګين ذکر:

سروکي د پښتني فولکلور يو ځانګړی منظوم ډول دی،چې له لنډۍ سره د يو ځای ويلو په ترڅ کې پوره کيږي او څرنګه چې د لنډيو په سر کې راځي،نو ځکه ورته سروکي هم ويل کيږي. په ځينو سيمو کې سروکي ته نيمکۍ هم ويل کيږي.سروکي معمولا پښتني ميرمنې او پښتانه هنرمندان په هنري مجلسونو کې د هنري الاتو دکارونې پر وخت وايي.هغه لنډۍ چې سروکی بشپړوي ،ټيکۍ ورته وايي.ځينې سروکي لنډ او ځينې بيا اوږده وي. ( ٧ – ٨٠).

لونګ او لونګين د ډېر ارزښت له مخې په سروکو کې هم يادېږي او له ياده يې نه اوباسي لکه په لاندې سروکي کې چې وايي:

که دلته نه وي په کنډو ورپسې واوړه
ما ته د لونګو بوټي راوړه

يا په لاندې سروکي کې چې د لونګين يادونه کوي:

يو پلو مې يار لونګين مې په دا بل پلو
ای وږوکيه دې پلو راواړه

**په بګتیو کې د لونګو ذکر:** بګتۍ د خاصو ولسي سندرو په لړکې یو مهم ډول دی،چې ډېر وخت د پښتني سندر غاړو لـه خولې اوریدل کېږي.بګتۍ پښتني هنرمندان مجلسونو کې د چاربیتو،بدلو او داستانونو په منځ- منځ کې وایي،بګتۍ د مجلس بنه او تودښت لاپسې زیاتوي او د خلکو پاملرنه ډېروي. ( ۷ – ۳۶ ).

مخکې مو هم یادونه وکړه،چې لونګ او لونګین په شفاهي ادبیاتو کې د ډېر ارزښت او قدر وړ بوټی یاد شوی دی.که څه هم په نورو ملکونو کې د درملو او مصالحو لپاره زیات کارول کېږي،خو پښتنه ټولنه کې لونګ او لونګین د سینګار او ګاڼې په ډول زیات یاد شوی لکه لاندې د بګتۍ یوه برخه راوړو:

د مازیګر اوبو له مسته په نخرو راځي
شور یې د ګونګرو راځي
شا په ټوپونو ځي په دانګه
دا د لاچي لونګو څانګه
ورته د فکر په ټال زانګه
دا توري زلفې د سیني په انارو راځي
شور یې د ګونګور راځي ( ۴ : ۲۵۷ )

## چاربیتو کې د لونګ او لونګین ذکر:

داهم دپښتو منظوم ادب یو داسې فلکلوریک ژانر دی چې اوږد او سندریزه جنبه لري د مضمون له پلوه هر اړخیزه مضامین لیږدوي چار بیتي په اولسي ادب کې خورا مشهورې منظومې دي . دچاربیتي هر بند له څلورو مسرو څخه کم نه وي ، خو اوږده موضوع بیانول ددې فورم ځانګړنه ده چاربیته کیدای شي چې هر څو بنده ولري .د پښتو چاربیتو معلوم وخت ندی معلوم،خو لومړنی یې د شیخ تایمني په پټه خزانه کې یادونه شوې ده.( ۷ :۱۳۴ ).

د موضوع په دې برخه کې به د چاربیتو هغه نمونې یا برخې راوړو ،چې د لونګو یا لونګین یادونه په کې شوې وي لکه لاندې چې د چاربیتي یوه برخه راوړل شوې ده.

دپښتني پېغلې له خوا

نــــاستـه یـم دفکر پـه ټال زانـګم چېرته یــار ګورم
زه مستــه لیـلایم ستـرګې اچــوم خریـــدارګـــورم
× × ×
نـــــاستــه یـم دفکـر پــه ټـال زه نېشـــه د بنګو یم
تـېــرشو پېغلتوب رابـانـدې ونـــه دلـونـګـــو یـــم
یــم پــه عطرو وتـره ګـوښـه نـاستـه لـه بـې ننـګـــویم
ځان له دمجنون پــه شان په صدق کې دلدار ګـــــورم

همدارنګه په چاربیتو کې هم د لونګ ذکر او یادونه شوې ده.په شفاهی ادب کې ځکه دا بوټی زیات یاد شوی،چې پخوا د سینګار توکي ډېر زیات نه و او همدا لونګ وو،چې د خلکو پام یې ځانله اړولو،خو اوس یې هم قدر کم شوی ندی او په زیاتره کلیوالي سیمو کې یې لا د پخوا په شان قدر او ارزښت شته،چې سمیزو شاعرانو په چاربیتو کې هم یاد کړی لکه په لاندې چاربیته کې یې چې ګورو:

دوه بندیزه چاربیته
په سپینه خوله کې دې نیشه ایښې د بنګو ده
دا لباسې خندا دې ټوله د بې نګو ده
بل خوشبویي دې په سینه کې د لونګو ده
عاشقان وژنې نن دې توره د قصابو ایښې
اوبو له ځي په سر جوغه دې د نوابو ایښې

یا په دې لاندې څنځیرۍ چاربیته کې یې چې یادونه شوې ده:

څنځیرۍ چاربیته
کله به راوړې دواړه لبې دې رنګین شیرین
سپین دې جبین،زرین،مخ دې ځلیږي
کله به راوړې دواړه لب،شات وملهم صنم
مه کړه ستم،هردم،په غضب ښورې
سرې دې منګولې،همېش وړې زړونه قلم،قلم
اخلې قدم،په چم،سترګې دې تورې
په در دې پروت یم،همیش غواړم،ستا کرم،محکم
لرې کړه غم،الم که رب ته ګورې
نن دې په غاړه باندې زانګي لونګین ،رنګین
سپین دې جبین،زرین مخ دې ځلیږي
ترپایه

( ۷ : ۱۶۲ )

همدارنګه ملا عبدالقادر،چې یو کلیوالي شاعر دی هغې هم په خپله یوه مشهوره چاربیته کې د لونګین او لونګ یادونه داسې کړې ده.

د ملا عبدالقادر مشهوره چاربیته

تور لونګین دې د سینې سره په جنګ و
دانه لاچې لونګ و ګونګورو دې کاوه شور
تور لونګین دې د سینې سره مدام
زنه دې سپب،لب دې حریر واوره ګلفام
ودې ویشتم،چې راښکاره شولې په بام
د خدای دپاره رحم وکه په ملنګو
دانه لاچې لونګ وو- ګونګور دې کاوه شور
تر پایه
( ۷ : ۱۷۲ )

## په پېراکو کې د لونګ ذکر:

پېراکۍ د افغانستان په سویلي او سویل ختیزو سیمو کې ویل کېږي.سر محقق زلمی هېواد مل په خپل کتاب (د پښتو ادبیاتو تاریخ-لرغوني او منځنۍ دوره ) کې دپېراکو په اړه وایي : (( دا سندرې د پښتو د شفاهي ادبیاتو یو ځانګړی ډول دی،هره سندره یې یوه څوارلس سیلابیزه مسرئ لري،چې معمولا د یوې بلې سندرې په پای کې په خاصه غاړه ویل کېږي او په ځانګړي ډول د استعمال مورد نه لري)). ( ۷ : ۶۰ )
څېړنوال محمد عارف غروال په خپل اثر ( غرنۍ سندرې) کې پاړکي د (( لنډکۍ)) په نوم یاد کړي دي. ( ۶ : ۱۲۳ ) .
د پښتو شفاهي ادب هغه غني پانګه ده،چې په خپله لمن کې د هر باغ او چمن ګلان ځای کوي،په پېراکو کې هم د لونګ یاد شته،ځیني ولسي شاعران یې په پېراکو کې هم یادونه کوي لکه په لاندې پېراکي کې چې ګورو:

پېراکۍ
جار خوله رانژدې که
ما لونګ ژولې دینه

## پایله:

لونګ او لونګین د پښتنو سیمو او په ځانګړي ډول د پښتنو نجونو د سنیګار هغه توک دی،چې د ګاڼي په ډول یې د سینګار او ښکلا لپاره کاروي.د لونګ هغه ارزښتناک او ښکلی بوټی دی،چې پښتنې نجونې یې په لنډیو کې او ولسي شاعران یې د ولسي ادب په ټولو ژانرونو کې یادوي او ان د لیکلو ادبیاتو خاوندان هم ترې په کراره ندي نسات او په خپلو اشعارو کې یې د لونګ او لونګین یادونه کړې ده.په پښتنه ټولنه کې د لونګ او لونګین کارونه د یو دود په څېر ده.هغه نجونې چې ودیږي باید په خپل سینګار کې د ښکلو لونګو څخه ښکلی لونګین جوړ کړي.د لونګ او لونګین ذکر د پښتو ولسي ادب په هر ژانر کې لیدل کیږي،چې دلته په دې څېړنــه کــې د ځینــو ژانرونــو پــه راوړلــو ســره ښــودل شــوې ده.لونــګ پــه لنډیو،ټپارکو،بګټیو،چاربیتو،سروکو او نورو ولسي ژانرونو کې یاد شوی دی.د لونګ په ارزښت تر هرې بلې ټولنې پوښتنه ټولنه ډېره پوهیږي او دا ځکه چې دا یې د خپل دود او دستور یوه برخه ګرځولې ده.د لونګین د جوړولو پر وخت د نجونو لخوا یوه وړه میله هم جوړیږي،څو په خوشحالۍ سره دا دود ترسره کړي او د ناوې لپاره ښکلی لونګین اماده کړي،نو د دې څېړنې دپایلې په توګه ویلی شو،چې لونګ او لونګین په هره ټولنه کې خپل ځای لري،خو پښتنه ټولنه کې یې ارزښت دومره زیات دی،چې د خپل کلتور او دود جز یې ګرځولی دی.

## اخځلیکونه


۱- بهاند،اصف، د لنډیو د ثبتولو ستونزې،افغتن جرمن آنلاین پورتال. ۲۰۱۸م.

۲- بېنوا،عبدالروف،پښتو لنډۍ،د افغانستان د علومو اکاډیمي،پښتو ټولنه. ۱۳۶۷ ل.

۳- حلیم،صفیه،چاپیریال او روغتیا خیرونه.safiahaleem.com/p=3925، ۲۰۱۶م.

۴- رفیع،حبیب الله،د خلکو سندرې،د افغانستان د علومو اکاډمی د تاریخ او ادب ټولنه.۱۳۴۹ل.

۵- زغم،احمد شاه،فولکلور او فولکلوري ادبیات،د افغانستان ملي تحریک،فرهنګي څانګه. ۱۳۹۴ ل.

۶- غروال،محمد عارف،غرنۍ سندرې،د افغانستان د علومو اکاډیمي: کابل. ۱۳۶۰ ل

۷- وفا،محمد داود،د فولکلور پیژندنې لارښود،مومند خپرندیویه ټولنه- جلال اباد. ۱۳۹۳ ل.

۸- https://ps.wikipedia.org/wiki/

۹- https://www.rekhta.org/articles/dihati-boliyan-saadat-hasan-manto-articles-۳?lang=ur

۱۰- https://www.youtube.com

۱۱- Zawia.media2020\5\3

۱۱- **https://www.youtube.com**

# په پښتنه ټولنه د ټیک ټاک اغیزې

لیکوال: پوهنیار تاج محمد رحیمي
پنجشېر د لوړو زده کړو مؤسسې پښتو څانګې استاد

## لنډیز:

ټیک ټاک د نوي عصر او ټکنالوژۍ هغه وسیله یا اپلیکشن دی،چې په ډېر ه کمه موده کې یې د نړۍ پر هر ګوټ خپل سیوری غوړولی دی.د نړۍ په هره برخه کې مینه وال لري.دا اپلیکشن یا ټکنالوژي په ډېر کم وخت کې د ډېرو خلکو د پام وړ وګرځېدو.په دې وسیله هر څوک کولی شي،ځانله یو اکونټ جوړ او په هغې کې وړې وړې ویوډیوګانې جوړې او خپلو مینه والو ته یې ورسوي،په ټیک ټاک کې اسلامي،فرهنګي،ټولنیزې،سیاسي او د ژوند نورو برخو پورې تړلي ټول موضوعات راوړل کېږي.په ځینو هېوادونو کې د همدې لارې په میلیونونو ډالر هم تر لاسه کېږي.په اوس وخت کې ټیک ټاک د ژوند یوه برخه ګرځېدلې ده.ټیک ټاک په پښتنه ټولنه هم خپل سیوری کړی او ډېری ځوانان که هغه په لر دي او که په بر د دې لارې په زړه پورې ویډویو ګانې جوړوي او خلکو ته یې وړاندې کوي.

## سریزه :

ټیک ټاک د نوي عصر لپاره یوه نوې وسیله ده،د دې لارې د نړۍ په هر ګوټ کې د هرې ټولنې او فرهنګ خلک وړې وړې تمثیلي ویډوګانې جوړوي او خپلو خلکو او ټولنې ته یې وړاندې کوي.دې اپلیکشن په پښتنو او په ځانګړي ډول په ځوانه طبقه ډېر اثر کړی دی. د نړۍ په هر ګوټ کې پښتانه ځوانان ډېر ې په زړه پورې وړې ویډیوګانې جوړوي او خلکو ته وړاندې کوي.کله،چې ژوند پرمختګ کوي،نړۍ ورسره پرمخ ځي او خلک له نویو شیانو سره مخ کېږي،چې یوه ښه بېلګه یې همدا ټیک ټاک ده.د ټیک ټاک د موضوعاتو لمن ډېره پراخه ده،چې د ژوند هره برخه په کې رانغاړل کېږي.ډېری تنکي ځوانان په دې برخه کې کار کوي.پښتو ادب ته یې دا ګټه ده،چې د دې لارې دا وړې تمثیلي ټوټې په خپله لمن کې د پښتني کلتور او فرهنګ هر شکل او فورم رانغاړي او ثبت پاتې کېږي.دا نوې عصري وسیله په پښتنو خپلې مثبتې او منفي اغېزې هم لري،ځینې ځوانان یې په مثبته توګه کاروي او ټولنې ته یې ګټه وي،خو ځینې داسې ځوانان او پېغلې شته،چې د همدې لارې د نورو سپکاوی او توهین کوي او خلکو ته کنزلې او بدې ردې وایي،چې دا یې په پښتنه ټولنه ډېره بده اغېزه ده،ددې لامل دا دی،چې څوک نشته،چې دا اپلیکشن وڅاري او یا پرې کوم محدودیت وي،هر څوک کولی شي،د خپلې خوښې او د خپل زړه خبرې له همدې لارې نورو ته ورسوي.ټیک ټاک د نوي عصر او نوې ټکنالوژۍ ایجاد دی او نوي ځوانان یې تر ډېره په همدې مصروف کړي،چې زیاتره ځوانان له زده کړو هم بې برخې کوي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت:

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی،چې په دې موضوع تر اوسه چا کار نه دی کړی.دا یوه نوې او په زړه پورې موضوع ده.په دې څېړنه کې د ټیک ټاک په رامنځ ته کېدو،د ځوانانو ونډه او په پښتنه ټولنه یې اغېزې ،دا ټول موضوعات په کې څېړل شوي دي.د دې موضوع بل اهمیت دا دی،چې په راتلونکي کې به ځوانان وکولی شي له ټیک ټاک څخه سمه او مثبته ګټه واخلي او له ناوړه اغېزو به یې په امان کې وي.

**د څېړنې موخې.**

د دې څېړنــې مــوخې دا دي،چــې څنګــه کــولی شــو د ټیــک ټــاک لــه دې پــرمخ تللــې ټېکنالوژۍڅخه پښتانه ځوانان او پېغلې په سمه توګه ګټه پورته کړي او هغه کلیوالي او ولسي ادب،چې د ورکېدو په حال کې دی،د همدې وسیلې په مرسته ثبت او خپاره کړي،څو نور پښتانه ترې خبر شي.بله موخه یې دا ده،چې په دې برخه کې نور ډېر کار ته اړتیا ده،چې په راتلونکي کې وکولی شو له همدې لارې پښتو ادب ته ډېر نوي شیان ورداخل کړو.

## د څېړنې پوښتنې:

- ټیک ټاک څه شی دئ؟
- ایا ټیک ټاک په پښتنه ټولنه اغیزې لري ؟
- د ټیک ټاک د رامنځ ته کیدو اړتیا څه وه؟

**د څېړنې میتود او کړنلاره:** د دې لیکنې بنه ویډیویي،انټرنیټي او کتابتوني ده. د تشریحي، توضیحي او تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## اصله موضوع: د ټیک ټاک پېژندنه:

ټیک ټاک هغه اپلیکشن دی،چې په هغې کې کارکوونکي کولای شي وړې وړې ویډیو ګانې جوړې کړي او په مجازي نړۍ کې یې خپلو مینوالو ته ورسوي .په ټیک ټاک کې تر ډېره د پخلي،نڅا،ټوکي ټکالو او یا هم د ورځني ژوند ځینې وړې صحنې ویډیو کېږي.لومړی یادې ویډیوګانې ثبت یا ریکارډ کېږي او بیا وروسته ورسره ساز یا موزیک ورزیاتېږي. د ټیک ټاک کارکوونکي دانسټاګرام په څېر کولای شي لایک او کومنټ واخلي.د یادونې وړ ده،چې د ټیک ټاک اپلیکیشن په چین کې جوړ او په نړۍ راج کوي.( ۹ )

## د ټیک ټاک رامنځته کېدا،اړتیا:

پــه اوس وخــت کــې ټیــک ټــاک د نــړۍ تــر ټولــو خوښــوونکي برنامــه یــا پروګــرام دی.د انټرنیټ په نړۍ کې یې د ډېرو خلکو پام ځانته راګرځولی دی.ټیک ټاک تر دې دمه په امریکا کې ۸۰ اتیا ملیونه وارې او په ټوله نړۍ کې ۸۰۰ اته سوه میلونه ډېر کارکوونکي او مینه وال لــري.دا پــه داســې حــال کــې ده،چــې پــه دې شــماره کــې د چــین زیــاتره وګــړي نــه دي شــامل.د (Sensor Tower) شرکت د معلوماتو له مخې د ټیک ټاک اپلیکشن په ۲۰۱۸ م کي د۲۰۱۷ م کال په پرتله درې برابره شوی دی.د ټیک ټاک برنامه په ۲۰۱۶م کال کې په فعالیت پیل کړای دی،چې د انسټاګرام او اسنپ چټ په پرتله یې د نړۍ وال بازار تبلیغاتي برخې پام هم ځانته را اړولی دی.همدا لامل دی،چې د نړۍ د ډېرو مشهورو فعالانو او ټولنیزو مشهورو څهرو لکه جیک پاول،جیمي فالن او ټوني هاوک پام یې ځانته اړولی او دوی هم د ټیک ټاک مینه وال شــوي دي.د Apptopia شــرکت د راپــور لــه مخــې ټیــک ټــاک پــه ۲۰۱۸م کــال کــې لــه فیسبوک،یوټیوب،اسنپ چټ او انسټاګرام څخه ډېر زیات ډاونلوډ شوی دی.په ۲۰۱۸م کال د اګست په میاشت کې (بایټ دنس) چې د ټیک ټاک د شرکت جوړونکی دی د (Musical.ly) په نوم یو پروګرام یا برنامه چې په ۲۰۱۷م کال کې یې پیرلې وه په ټیک ټاک ورګډه ( مدغمه) کړه.همدا لامل وو،چې ټیک ټاک په امریکا او ټوله نړۍ کې د خلکو د پام وړ وګرځېدو.( ۹ ).

اوس راځو او په دې بحث کوو،چې څه لامل شو،چې ټیک ټاک رامنځ ته شو او په خلکو کې دومره زیات شهرت پیدا کړي؟دا،چې نړۍ د پرمختګ په حال کې ده او هره ورځ

نوي نوي ټکنالوژۍ او پرمختګ سره مخ کېږي،نو خلک هم د پرمختګ غوښتونکي دي او غواړي،چې ورځ تر بلې د پرمختګ سره سم قدم ووهي او مخکې ولاړ شي.که لږ مخکې لاړ شو او وګورو،نو لومړۍ راډيو جوړه شوه تحول يې رامنځ ته کړ،بيا ورپسې تلويزون،کمپيوټر،انټرنيټ،موبايل،ياهو،جی ايمل،فيسبک،انسټاګرام،سنپ چټ،يوټيوپ،ټيوټر.... او اوس ټيک ټاک دا ټول هغه څه دي،چې يو په بل پسې رامنځ ته په ټولنه کې يې ارزښت پيدا کړ.په نړۍ کې ټول خلک او په ځانګړي ډول د نن وخت ځوانان د لا نورو ډېرو پرمختګونو په هيله او ارمان دي.همدا هيله او ارمان د دې لامل کېږي،چې نړۍ وال شرکتونه نوي نوي شيان او اسانتياوې رامنځ ته کړي.د همدې پرمختګونو او نوښت په لړ کې يوه اړتيا د ټيک ټاک هم وه،چې بازار ته لار پيدا کړي.د ټيک ټاک د رامنځ ته کېدو يو لوی لامل دا وو،چې د امريکا او اروپا بازارونو ته لار پيدا کړي،نو ځکه يې په دې برخه کار وکړ او بلاخره يې د امريکا بازار ته مخه کړه،چې اوس وخت کې په امريکا کې ۸۰۰ ميلونه مينه وال لري.بل لامل يې دا و،چې ځوانانو دا پروګرام ډېر خوښ کړ او ورځ تر بلې يې په ټولنه کې اړتيا زياته شوه.په نړۍ کې د ټيک ټاک زياتره مينه وال ځوانان دي،چې مختلفې وړې وړې ويډيو ګانې لکه د پخلي،نڅا،د سندور سره خوله خوځول،وړې وړې تمثيلي ټوټې او داسې نورې خپلو مينه والو ته وړاندې او خپل ملګرى زيات کړي.ټيک ټاک په ټوله نړۍ او په ځانګړي ډول په اسيا کې هم ډېر زيات مينه وال پيدا کړي دي.

### ټيک ټاک او ځوانان:

کله،چې د ټيک ټاک نوم اخلو حتمآ به مو ځوانان او د هغوی کړه وړه او څېرې سترګو ته ودرېږي.نړدې د نړۍ هر ځوان په هره ژبه خپلې وړې ويډوګانې او کليپونه جوړوي او د ټيک ټاک مجازي نړۍ ته يې سپاري.ټيک ټاک د ځوانانو د زوق او شوق د خړوبولو يوه ډېره ښه او اسانه وسيله ده.د نن نړۍ ځوانان د دې لپاره وخت نه لري،چې لوی لوی کتابونه مطالعه کړي او څه ترې ياد کړي او نه دې ته وخت لري،چې پخوانۍ فولکلوري کېسې ولولي او واوري.دوی هر څه ډېر ژر او په کم وخت کې غواړاي،چې دا کار ورته مجازي نړۍ په ځانګړي ډول ټيک ټاک اسانه کړای دی.د ټيک ټاک سره د ځوانانو بې کچې مينې د دې پروګرام ارزښت نور هم زيات کړای دی. هر هغه څوک، په ځانګړي ډول ځوانان ،چې ځيرک موبايلونه او يا هم کمپيوټر لري،نو خامخا به د ټيک ټاک ليدلو ته زړه ښه کوي او يو ځل به د ټيک ټاک نړۍ ته سر ورښکاره کوي.ټيک ټاک په ځوانانو کې ډېر رشد او وده کړې ده.

### د ټيک ټاک کارونه:

که څه هم ټيک ټاک يو نوی اپليکشن دی او د نړۍ په ګوټ ګوټکي ورسره خلک اشنا دي،د هرې طبقې،هر مذهب او هر ټولنې خلک ترې ګټه اخلي،خو زياتره کاروونکي او چلوونکي يې ځوانان،ماشومان او په کمه کچه د پاخه عمر خلک دي.دا اپليکشن د هر انسان په لاس کاريدی شي او هر ډول،چې وغواړي ګټه ترې اخيستی شي،خو زمونږ زياتره ځوانان له دې مجازي نړۍ کله کله ناوړه ګټه پورته کوي او په سمه توګه يې نه کاروي.د ټيک ټاک کارونه که څه هم هيڅ ډول بنديز پرې نشته ،خو کوښښ بايد وشي په سمه توګه وکارول شي،څو ټولنې ته د زيان پر ځای ګټه ورسوي او زمونږ دا ټولنه د پرمختګ خوا ته روانه کړي.هغه پښتو يوه لنډۍ ده چې وايی:

په سور سالو کې ګناه نشته
ګناه جينی کې ده چې رنګه بنګه ځينه

پورته لنډۍ ته په کتو سره ويلی شو،چې په مجازي نړۍ کې هر تحول او بدلونه راځي او د خلکو لاس ته رسيږي په هغې کې ګناه نه وي ګناه،خو يې په هغه کسانو کې وي،چې د ناوړه مقاصدو او ناوړه اخلاقو لپاره يې کاروي.د ټکنالوژۍ هر برخه مثبتي او منفي خواوې لري،که څوک ترې مثبته ګټه واخلي ګټه يې کړې او که منفي خواته يې مخ کړي،نو په توان کې روان

دی،نو په کار ده،چې کوښښ وشي او له دې ټکنالوژۍ سالمه ګټه پورته شي او د ټولنې د اصلاح لپاره ترې کار واخیستل شي.

## د ټیک ټاک ژبه :

مخکې مو په دې بحث وکړ،چې ټیک ټاک څه شی دی او ولې رامنځ ته شو؟د ټیک ټاک د رامنځ ته کېدو لاملونه که څه هم د ځوانانو مینه وه او د نړۍ مارکیټ ته لاره پیدا کول و،اوس خبره دا ده،چې د دې ټولنیزې مجازي نړۍ ژبه باید څه ډول وکارل شي؟ایا خلکو ته په کې کنځلې وشي؟ایا د خلکو سپکاوی وشي؟ او که د خلکو شخصي حریم ته په کې ورداخل شو؟دې ټولو پوښتنو ته به په دې بحث کې لنډ ځوابونه پیدا کړو.دا،چې ټیک ټاک یوه ټولنیزه شبکه ده او هر څوک کولای شي لاس رسی ورته پیدا کړي.په هر ډول،چې وغواړي ګټه ترې پورته کړي.زموږ زیاتره ځوانان په ځانګړي ډول د افغانستان،پاکستان،ایران او هند ځوانان ډېری وخت،چې د ټیک ټاک لپاره کومې وړې ویډوګانې جوړوي د خلکو شخصي حریم ته ورداخلیږي،کنځلې په کې کوي او ډېره سپکه ژبه په کې کاروي.یو بل ته په کې سپکې سپورې او پوچې خبرې کوي.په ټیک ټاک کې ،چې څومره ویډیوګانې خپریږي که څه هم د طنز په ژبه یې جوړوي،خو کله کله ترې ژبه دومره خرابه شي،چې طنز په کنځلو او پوچو بدل شي.کله کله د ټیک ټاک لپاره په جوړو شو ویډیوګانو کې د ادب اړخ دومره کمزوری شي،چې هره ویډیو د لیدلو وړ نه وي او نه شي کولای،چې په هر ځای کې وکتل شي.زموږ زیاتره ځوانان که یو خوا ټیک ټاک د پیسو د ګټلو لپاره کاروي،نو بلخوا دې کوښښ وکړي،چې د خپلې ټولنې د سمون او اصلاح لپاره هم په کې پام وکړي او داسې څه ټولنې ته وړاندې کړي،چې ټولنه یې په کتلو ونه شرمیږي.ما مخکې یادونه وکړه،چې د ټیک ټاک ژبه زیاتره وخت طنزي وي.که د طنز تعریف ته وکتل شي هلته چا ته د کنځلو اجازه نشته لکه په دې تعریف کې،چې وایي:(طنز عربي کلمه ده.لغوي معنا یې،ناز او کرشمه،پیغور،مسخره کول او سرنزنش کول ښودل شوي دي). ( ۳ : ۱۹۰ ) .

انګریز ادیب ډاکټر ساموېل جانسن وایي: ( طنز هغه وینا ده،چې ټولنیز فساد او نادودې تر نیوکې لاندې راځي)).( ۱ : ۱۸۰ ).

((طنز په واقعیت کې هغه ترخه خندا ده،چې د ټولنې د خلکو په ناوړه اعمالو،عاداتو،اخلاقو او افکارو باندې کیږي)) ( ۲ : ۱۱۴).

د طنز په اړه نور ډېر تعریفونه شته،چې دلته یې راوړل زموږ د موضوع اړخ بل خوا ته وړي.دلته مې د طنز یادونه ځکه وکړه،چې د ټیک ټاک ژبه هم تر ډېره طنزي ښه لري او زیاتې ویډوګانې د طنز په ژبه ثبت او خپریږي.اوس،چې خبره د طنز ده،نو کوښښ باید وشي داسې ویډوګانې جوړې او خپرې شي،چې هم په ټولنه سالمه نیوکه وشي او هم د کلام عفت په کې وساتل شي.که داسې ونکړو،نو ټولنه به د سالمتیا څخه د بدبختۍ لورې ته روانه کړو او زیاتره ځوانان به مو بدو کارونو او لارو ته هڅولي وي.په نړۍ کې د هرې ژبې ځوانان غواړي په ټیک ټاک جوړنه کې لاس بري اوسي،خو په دې سیمه کې زیاتره د هندي،پښتو،دري او اردو ژبو ویونکي په زړه پورې ویډیوګانې جوړوي او ټولنې ته یې وړاندې کوي.

## په ټولنه د ټیک ټاک اغیزې:

د موضوع په دې برخه کې په دې بحث کوو،چې د ټیک ټاک ټولنیزه رسنی په موجوده ټولنه کومې مثبتې او منفي اغېزې ښندلی شي.ګټه یې ډېره ده که تاوان؟ ایا خلک او په ځانګړي ډول ځوانان به له ټیک ټاک څخه سمه ګټه واخلي کنه؟دا او دې ته ورته نورې پښتنې به په همدې بحث کې د دوه جلا جلا عنوانو تر سر لیک لاندې وڅېړل شي.

## په پښتنه ټولنه د ټیک ټاک مثبتې اغېزې:

د نړۍ په هر ګوټ کې د انټرنیټ په مرسته له مجازي نړۍ سره د هر عمر خلک تر ډېره اشنا دي.په اسیا،امریکا،اروپا او افریقا کې تر ډېره له مجازي نړۍ څخه خلک مختلفې ګټې تر لاسه کوي،خو ټیک ټاک په مجازي نړۍ کې هغه اپلیکشن یا وسیله ده،چې د مادي ګټو ترڅنګ یې معنوي ګټې هم ډېرې زیاتې دي.ځیني خلک ټیک ټاک یوازې د تجارتي ګټو لپاره کاروي او له دې لارې ډېرې پیسې تر لاسه کوي.د هر کلتور او فرهنګ خلک یې د خپل کلتور او فرهنګ تر چتر لاندې کاروي او ګټه ترې اخلي.په هند کې د ټیک ټاک کارونه کې پرته له مذهبي بندیزونو، نور هیڅ ډول محدویت او بندیز په کې نه لیدل کېږي.

که ژبه یې هر څومره لوڅه او بربنډه وي،که چا ته په کې هر څومره سپکاوای شوی وي کوم باک او پروا په کې نشته ځکه د هغې ټولنې په فرهنګ او کلتور کې طنز او کومیډي د ډېر ارزښت وړ ده او چاته کوم سپک کار نه ښکاري.همدارنګه که د ځینو سیمو په اړه خبرې وکړو ځیني خلک هم په طنز او کومیډۍ کې د کلام د عفت تر ډېره خیال نه ساتي او هر ډول چې وغواړي خپله ویډیو جوړوي او په ټیک ټاک یې خپروي،خو که خبره د پښتنو سیمو کوو،نو دلته په دې سیمه کې د هر دیني،مذهبي او کلتوري ارزښت ته باید پام وشي او داسې څه باید خپاره نه شي،چې ټولنه کې غبرګونونه وپاروي.تر کومه،چې په پښتنه سیمه د ټیک ټاک د مثبتو اغیزو خبره ده،لکه د نورې نړۍ د وګړو په څېر په پښتنو یې هم تر ډېره مثبتې اغېزې کړې او خلک ترې مثبته ګټه پورته کوي.

دلته به په لنډډول دځینو یادونه وکړو.لومړۍ ګټه،خو دا ده،چې ډېر پښتانه یې په ځینو برخو کې خپلو مسؤلیتونو او کارونو ته متوجه کړي دي،چې په ټولنه کې باید څرنګه ژوند وکړي او د خلکو سره یې راشه درشه او ټولنیز اخلاق څنګه وي.بله ګټه یې دا ده،چې د ټیک ټاک له لارې په ډېرو هغو چارواکو،چې خدمت ته یې شا کړې ده،په هغوی طنز شوی او په ځینو برخو کې یې خپلو مسؤلیتونو ته ځیر کړي دي.همدارنګه په ټولنه کې ځیني خلک شته،چې د نورو خلکو یا مخالف جنس سره تبعیض کوي،چې په ځینو ټیک ټاک پروګرامونو کې د داسې خلکو په وړاندې په تنده طنزي لهجه تر برید لاندې نیول شوي،څو متوجه شي،چې په اسلام کې تبعیض نشته،نو خلک ولې یو تر بله تبعیض کوي.

ځیني داسې ټیک ټاک ویډوګانې هم شته،چې د پښتنې سیمې ناوړه دودونونه یې تر برید لاندې نیولي او خلکو ته دا په ګوته کوي،چې دا ډول دودونه انساني ټولنه له بدمرغیو سره مخ کوي.همدارنګه اصلاحي،صحي،سیاسي،ټولنیز،کلتوري او دودیزې ویډوګانې په ټیک ټاک کې د دې لپاره خپرېږي،څو وکولای شو مثبته ګټه ترې واخلو.د موضوع په دې برخه کې به د ټیک ټاک ویډیو یوه بېلګه راوړو چې مثبته اغېزه یې څه ده.

**بېلګه:** دغه ۸ ثانیي ویډو چې یو نفر په کې غټه ږیره پرېښې او د وعظ او تبلیغ په شکل خپلې خبرې کوي او په لومړیو کې کس فکر کوي،چې دا به کومه ښه مسله بیانوي چې کله یې اخر ته غوږ شې بل څه وي مکالمه یې په لاندې ډول ده.

- زما مشرانو او کشرانو ورونو یوه خبره کوم او هغه دا ده چې دا کله څوک په لارو کوڅو کې جنګ کوي.
- نو مونږ او تاسو له په کار دي،چې مونږ ښه په قراره باندې شاته کینو.
- ځکه ،چې هغه شاته ولاړ کسان هم دا جنګ ښه په مینه وګوري.
- ههههههههههههههههههه

په پورته مکالمه کې که څه هم د طنز په ژبه یوه لنډه ویډیویي مکالمه ده او ځینې خلک به دا فکر کوي چې دې نفر د کوم مولوي تمثیل کړای او دا یې ښه کار ندی کړای خو په حقیقت کې نوموړي د جنګ نه د نفرت لپاره دا ویډیو جوړه او خلکو

ته وړاندې کړې چې دا د طنز په ژبه هغه خلکو ته یوه درنه سپېره ده چې کله دوه کسان جنګ وي او دوی ورته ولاړ وي او یوازې سیل یې کوي. ( ۴ )

## په پښتنه ټولنه د ټیک ټاک منفي اغېزې:

مخکې مو په دې بحث وکړ،چې د ټیک ټاک ګټه پښتنې ټولنې ته څه ده،هر څه او هر بدلون په ټولنه کې خپلې مثبتې او منفي اغیزې لري.په ژوند کې هر څه ښه او بد لري.که له ښو یې ګټه او له بدو عبرت واخلو دا به د ټولنې او په ځانګړې ډول د پښتنې ټولنې په ګټه وي.پښتنه سیمه له علم او پرمختګ څخه وروسته پاتې سیمه ده.دلته که هر ډول بدلون راځي ډېر دقت او پام ورته وشي.په پښتنه سیمه کې له مثبتو ګټو منفي ته ډېر ژر پام اړول کېږي.ښه بیلګه یې د کوزې پښتونخوا پښتو فلمونه دي،چې په هغې کې ټول منفي کرکټرونه په پښتنه سیمه کې ډېر ژر عام او رواج شو.همدارنګه که ټولنیزو رسنیو ته سر ښکاره کړو،ډېری وخت په کې د ښو خبرو پرځای یو بل ته پر کنځلو او پوچو خبرو بوخت وي.اوس که راشو د ټیک ټاک پر منفي اغېزو خبرې وکړو،نو ګورو،چې دې نوې ټکنالوژۍ په پښتنه سیمه منفي سیوری هم غوړولی او زمونږ زیاتره ځوانان د ښو ویډیوګانو پر ځای بدې او ناکاره ویډګانې جوړوي او ټولنې ته یې وړاندې کوي،چې دې کار زمونږ په ټولنه او سیمه ناوړه اغېزه کړې ده.دلته د بیلګې په توګه د ټیک ټاک یوه نمونه راوړو او ګورو چې کوم ډول الفاظ کاروي او موخه یې ترې څه ده.

**بېلګه:**

دوه کسان چې یو یې ولاړ او بل یې روان وي دا ولاړ کس روان ته وایي چې ای دلته راشه.. نوره مکالمه یې په لاندې ډول ده.

۱: ای دا راته ووایه دا تشناب ته د تلو دعا څه ده؟

۲: یاره امر صاحب که رښتیا راباندې وایې مونږ د کلي خلک یو د خپل حاجت لپاره پټیو ته ځو. په ټټیو یا کینارب کې خخخههههههههههههههه ( ۵ ) .

که پورته مکالمې ته وګور په پښتنه ټولنه کې په ښکاره ډول داسې الفاظ کارول یو عیب ګڼل کېږي او څوک په کوم مجلس کې ناست وي او دا ډول خبرې او مکالمې کوي د خلکو په وړاندې سپک ښکاري،چې همدا یې په ټولنه بده اغېزه ده.

**بېلګه:**

یا که دا لاندې نمونه وګور:

په دغه لاندې ویډیو کې دوه کسان یو د پلار او بل د ځوی تمثیل کوي او مکالمه یې په ۱۲ ثاینو کې په لاندې ډول تمامیږي.

۱: یاره خان بابا که چیرته میلونر شوې ته به په دې دومره روپو څه وکړې؟

۲: بچې! دوبی،لندن،شراب او کباب.... او عیاشي پرې کوم.

۱: او که خدای یې درنه بیرته واخلي ؟

۲:نو بیا د کوټې کونج،شنه نسوار او ستا ابی.

۱: یاره پلاره ته هم ډېر وران یې. ( ۶).

که پورته مکالمه وکتل شي،یو ډول د نوي ځوان کهول په ذهن کې دا خبره پیچکاري کوي،چې که پیسې دې پیدا کړې،نو بیا پرې شراب،کباب او عیاشي کوه او که مفلس وې او څه درسره نه وو،نو بیا ښه انسان اوسه او د مور او پلار په خوا کې وخت تیروه.چې همدا یوه بده او ناوړه اغېزه ده ،چې په ځوانانو یې کوي.په دې برخه کې نورې ډېرې پوچې او سپکې ویډیو ګانې شته چې نه غواړم دلته یې یادونه وکړم ځکه چې هغه الفاظ دومره پوچ او خراب دي،چې زما قلم یې ماته د لیکلو اجازه نه راکوي،نو ځکه په همدې بیلګو بسنه کوم.

## پښتو ادب ته د ټیک ټاک ګټه:

که څه هم مونږ مخکې په دې بحث وکړ،چې ټيک ټاک د ځوانانو دخوښيو يوه وسيله ده او په ټولنه کې ترې ډېرى ځوانان خپل ذوق خړوبوي.همدارنګه د پيسو او مارکيټ وسيله هم ده ځکه چې ډېر ځوانان د همدې لارې ډېرې پيسې ګټي او همدې ته يې کار ويلى دى.د دې ټولو خبرو سربيره پښتو ادب ته يې ګټه دا ده،چې په ډېرو کمو خبرو کې د طنز په ژبه يو انسان کولی شي خپله خبره زرګونو کسانو ته ورسوي.پخوا به طنز يا په کتاب کې وليکل شو او همداسې به پاتې شو او يا به کله کله د ستيج په سر د څو کسانو په مخ کې يو څوک ودريده او خپلې خبرې به يې ورته واورولې،خو اوس د ټيک ټاک په مرسته هر څوک،هر چا ته خپله خبره او نيوکه په ډېرې اسانى سره کولى شي.همدارنګه پښتو ادب ته يې بله ګټه دا ده،چې لکه د ډرامې،تمثيلي ټوټې او نورو ژانرونو په څېر دا برخه هم مخ په غوړيدو ده او په څو ثانيو کې د مطلب خبره خپل مخاطب ته رسيږي.همدارنګه د ټولنې منفي او مثبتې خواوې هم په کې اصلاح کيږي.بله ګټه چې پښتو ادب او ژبې ته يې رسوي هغه دا ده،چې په نثر او نظم دواړو کې دا برخه غني ده،ژبه يې ډېره ساده،روانه او عام فهمه ده.هر څوک کولى شي تر خپلې سويې ترې برداشت واخلي.که په ټوله کې خبره راټوله کړو،د دې نوي اپليکشن په رامنځ ته کېدو سره هم په ځوانانو کې تحول رامنځ ته شوى او هم يې پښتو ژبې ته په يو ډول نه يو ډول ګټه رسيږي،ځکه،چې دا ويډيو ګانې په ټوله نړۍ کې خپريږي او هغه خلک چې پښتو نه پېژني هم ترې خبريږي.د ټيک ټاک ځينې نورې بېلګې هم وړاندې کوو.

لومړى بېلګه: په لاندې ويډيو کې دوه کسان يو د پلار او بل د ځوى تمثيل کوي او په څو ثانيو کې يوه وړه ويډو جوړوي او خپلې مکالمې داسې پيل کوي.

١:دا رته ووايه

٢:اهه

- KING DOM ,KING Dom1: څه ته وايي؟

٢ :کينګ ډمممممممم

١ :ژر ووايه.

٢: اهههههههه کينګ ډم دا خو اسان سوال دى پلاره کوم بل سخت سوال رانه وکړه.

١:دا وايه دا کينګ ډم څه ته وايي؟

٢:کينګ ډم درته ووايمه .

١:هو کينګ ډم راته ووايه.

٢ :نو دا کينګ ډم نو دا کينګ په انګليسي کې باچا ته وايي او ډم - ډم ته وايي.معنى يې دا دا پاچا او ډم وو..هههههههههههههه ( ٧ ).

دويمه بېلګه:

په لاندې مکالمه کې يو نفر د شعر په ژبه يوه وړه ټيک ټاک ويډيو جوړه کړې او مکالمه يې په لاندې ډول کړې ده.

- هغې ويل د جنګ سره مينه زياتيږي.
- ما ويل ښه څه چې نن يې و ازمايو
- درې څلور سوکه مې ووهله د کافر لور بې هوشه شوه.
- راته ښکاري مينه پرې زياته شوه

دريمه بېلګه: يوه بله وړه ۶ ثانيي ويډيو چې يو هلک موبايل په لاس کې دى د موبايل مايک کې وايي چې:

١:هوکى ګوګل زما واده کله دى؟

بل نفر چې د ګوګل تمثيل کوي ورته وايي

٢: زه.... ګوګل يم ستا نيا نه يم.

څلورمه بېلګه:

دغه لاندې ویډیو ۱۲ ثانیي ویډیو کې دوه کسان چې یو یې له ځانه ساده جوړ کړای دا بل ترې پوښتنه کوي،چې ولې خفه ناست یې ؟ دویم کس ورته په ځواب کې وایي،چې زه یوې نجلۍ سره مینه لرم هغه راته هر وخت وایي چې ای لاو یو ټو .دلته هلک دا مطلب اخستی وي چې د ټو مطلب دویم دی حال دا چې په انګلیسی کې د ای لاو یو ټو معنی ده زه هم له تا سره مینه لرم. چې مکالمه یې په لاندې ډول ده.

۱: یا هلکه ولې خفه ناست یې؟

۲: مېنه زما یوه جنۍ خوښه ده او هغه یې نه مني.

۱: ولې څه وایي.

۲: مېنه هر وخت راته وایي I LOVE U TOO. اوس معلومه نه ده چې دا دویم کس څوک دی چې دا جنۍ ورسره مینه لري.مېنه.

## پنځمه بېلګه:

په دغه ۱۴ ثانیي ټیک ټاک ویډیو کې دوه هلکان ناست دي،چې یو سره په لاس کې موبایل دی او د ژورنالیست دنده پر مخ بیایي او بل ته یې خولې ته میک نیولی وي او په لاندې ډول ورسره مکالمه کوي.

۱:روره ته ولې داسې بې حاله ناست یې؟

۲:واده په کار دی واده واده.۲۰۲۰ راغی او غریب تباه دی.

۱:ستا حکومت نه څه غوښتنه ده؟ سترګې دې چا ته دي؟

۲:سترګې خو مې جنکو ته دي.

۱: هههههههههههههه ( ۸ ).

## پایله:

دا څرګنده خبره ده،چې کله ژوند پرمخ ځي،نو نوي وسایل او نوې ټکنالوژي رامنځ ته کېږي.هر عصر او هر دور ځانله جلا جلا پرمختګونه او لاس ته راوړنې لري،چې په اوسني عصر کې د ټیک ټاک د راتګ سره د ځوانانو په ژوند کې ډېر تغیر او بدلون لیدل کېږي.ټیک ټاک هغه وسیله ده،چې هر څوک کولی شي،ډېره وړه او په زړه پورې ویډیو جوړه او خپلو مینه والو ته یې وړاندې کړي.په پښتنه ټولنه یې مثبتې او منفي اغېزې زیاتې دي.پښتانه ځوانان زیاتره د خپلو سیمو دودونه په ټیک ټاک کې وړاندې کوي.ټیک ټاک هغه اسانه وسیله ده،چې د هرې سیمې له احواله مو خبروي.د هر عمر او هر جنس خلک ټیک ټاک کاروي اویا یې

ګوري،خو زیاته برخه په کې د ځوانانو او نجونو ده.د دې لارې ادب ته دا ګټه رسیږي،چې ډېر کلیوالي او ولسي ادب او رواجونه ثبت او وړاندې کېږي.

## ماخذونه:


۱- میمنت،میرصادقي،ذولقدر واژه نامه هنري شاعري،دویم چاپ،۱۳۷۶ ل.
۲- هاشمي،سید محی الدین،د لیکوالی فن،لسم چاپ،میرویس خپرندویه ټولنه،پېښور،۱۳۹۳ ل.
۳- هاشمي،سید محی الدین،د نثري ادب ډولونه،د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست،همایون مطبعه،کابل،۱۳۹۴ ل.
۴ - @abdurahim44
۵ - @user121069707046572
۶@Javedveeera786
۷ - Khalifa_khan????
۸- TIKTOK STORE /PASHTO FUNY VIDIOS
۹- https//www.plaza.ir/mag

# د عبدالرحمن بابا په ادبي مکتب کې د تاریخي کیسو څېړنه

لیکوال: پوهنیار تاج محمد رحیمي

پنجشېر د لوړو زده کړو مؤسسې پښتو څانګې استاد

Summary:

Stories are a natural necessity of life and of human society. If anyone wants or doesn’t want, the stories are being heard, written and told. In the poetical sea of Rahman Baba, the pearl of stories are seen and must be identified. Rahman Baba is a poet of Pashtun tribe who has put the pain and problems of his society in his Diwan (a complex book of poetry). The content of my work is about the poetry of Sufi poet Abdul Rahman Baba. Abdul Rahman Baba as a Muslim Gnostic and learned guide poet, the source from which this inspiration is derived is the Greatest Holy Quran, which draws a line between the facetiae and the “ Ahsan-al-Qusas ”.

**لنډیز:** کیسه د ژوند او بشري ټولنې یوه طبعي اړتیا ده.که څوک وغواړي که ونه غواړي کیسې اوري،کیسې لیکي او کیسې وایي. د رحمن بابا په شاعرانه سمندر کې د کیسو مرغلرې لیدل کېږي او په ګوته کول یې اړین کار دی. رحمن بابا د پښتون قوم هغه شاعر دی،چې د خپلې ټولنې درد او ستونزې یې په خپل دیوان کې ځای کړې دي.زما د کار مواد د صوفي شاعر عبدالرحمن بابا شاعري ده. عبدالرحمن بابا د یوه لارښود شاعر او مسلمان عارف په توګه د غه الهام چې له کومې سرچینې اخیستی،هغه عظیم الشان قران دی،چې د((احسن القصص)) په نامه د هزلیاتو تر منځ کرښه کش کوي. او یو له بله یې بېلوي.

**کاریدونکي ویيي:** کیسه،دیوان،اسلام،رحمن بابا،یوسف(ع)

**سریزه :** د کیسې اورېدل،لیکل ،لوستل د انسانانو یوه طبعي او فطري غوښتنه ده.بشري ټولنې ته خپلې کارنامې او ناخوالې د کېسو په بڼه پاتې دي.د ادم(ع)د پیدا ښت نه راپېیخوا څه چې مونږ ته راپاتې دي، ټول یې د کیسو بڼه لري. همدارنګه د اسلام قانون قرانکریم هم مونږ ته ډېرې پخوانۍ کیسې د عبرت په توګه راوړي دي.تاریخ د یو منل شوي علم په توګه پر کیسو ولاړ دی،ځکه خو ویل کېږي،چې فولکلور د یو ملت نالیکلی تاریخ دی.ادب،چې له ټولنې پرته یې هیڅ تصور هم نه شي کېدای په حقیقي او افسانوي کیسو

ولاړ دی، ان تر دې چې د ادبیاتو یو نوی ډول له داستانونو جوړ دی.په لیکلي پښتو ادب کې د تاریخي کیسو پیلامه د شیخ اسعد سوري او ښکارندوی غوري له قصیدو سرچینه اخلي له دوی را دېخوا نورو شاعرانو دغه چاره نوره هم ګړندی کړې ده.په دې برخه کې عبدالرحمن بابا هم غلی نه دی پاتې شوی او ډېرې کیسې یې په خپل دیوان کې خوندي کړې دي.په دې لیکنه کې به لوستونکي د عبدالرحمن بابا په اشعارو کې د کیسو په اړه معلومات پیدا کړي او له بله پلوه به دا هم ورته څرګنده شي، چې عبدالرحمن بابا څومره پراخ معلومات لري، چې د اشعارو په کوزه کې یې د کیسو سمندر هم ځای کړی دی.

## اصلي موضوع:

**د رحمن بابا پېژندنه:** عبدالرحمن بابا په ۱۰۴۲ هجري قمري کال د پېښور ښار په جنوبي اړخ کې پروت بهادر کلي کې سترګې نړۍ ته پرانیستې وې. پلار یې عبدالستار د مومندو پښتنې قبیلې ته منسوب وو.(۱ : ۱).

رحمن بابا د پښتو شعر او ادب هغه ځلانده او روښانه ستوری دی چې د لرې او برې پښتونخوا خلک یې یو شان پېژني.د رحمن بابا د درناوي لپاره به همدا کافي وي چې د ټولو پښتنو له خوا ورته ((بابا)) ویل کېږي او هر کال لر او بر پښتانه د ده په ویاړ مشاعرې جوړوي. (۵ : ۲۴۲).

**کیسه څه ته وایي؟:** کیسه یو روایت دی، یا د یوې پېښې بیانول دي که ریښتیاوي او که خیال او که انساني غوښتنه وي کیسه یوه سمبال شوې هڅه او غوښتنه ده.انساني هېلې دي.کیسې د ژوند د نړۍ یوه برخه ده په دې هکله شکسپیر وایي (هغه څه چې طبیعت سمبالوي یا بدلوي یو هنر دی ،خو په خپله هنر طبیعت دی.) ګویټه وایي (یو هنري اثر هماغومره د طبیعت اثر دی چې غرونه دي.) د ګویټه له خبرو معلومیږي لکه څومره چې غرونه د طبیعت په ښکلا کې رول لوبوي همد شان هنر هم د طبیعت د ښکلا یوه وسیله ده. په کیسه کې د ژوند د یوې برخې دیو حالت د یوې پېښې تحلیل او د لیکونکي برداشت شتون لري. د ادبي فنونو له مخې په شعر کې د کیسو یادونه د تلمیح په نوم یادیږي.(۴ : ۸۴).

د یو غربي لیکوال ایډل مند نیپر په وینا د کیسې اورولو او اوریدلو هیله او غوښتنه هغه ځانګړنه ده چې د انسان په ختمه کې اخښل شوې ده له همدې امله ده چې د بشري تاریخ په اوږدو کې د کیسو بېلابېل ډولونه را منځته شوي او نن یې پرمختګ کړی دی.(۹ : ۳۸).

## د عبدالرحمن بابا په دیوان کې د تاریخي کیسو څرګونه:

د رحمن بابا په دیوان کې د کېسو ډېر څرکونه لیدل کېږي. نوموړي په خپل دیوان کې د جمال خان د غمیزې او تاریخي کېسې په اړه ذکر کړی دی. د رحمن بابا د ژوند په وروستیو کلونو کې د مومندو په قبیله کې د یوې خطرناکې دښمنۍ، د پردو په لاس راولاړشوې تربګنۍ د خونړیو پېښو او د یوې تاریخي غمیزې ښکار شوه او رحمن بابا له دې پېښې د یوه ستر ګور انسان په توګه متاثر شو او د احساس او ښکې یې پرې تویې کړې.

دلته مخکې له دې چې د رحمن بابا تاثرات وړاندې کړو لومړی به همدې غمیزې ته یوه لنډه کتنه وکړو. د مغولي پاچا اورنګزیب تر مړینې وروسته (۱۱۱۸ ه ق) جمال مومند چې د مومندو د یوې کمزورې تپې مشر وو د ځینې نورو کسانو په ملتیا په شورش لاس پورې کړ او غرض یې دا و چې د دې شورش په وسیله به د ده نوم مشهور شي او د دې شهرت له امله به اربابي ورته وسپارل شي ځکه مغولو تر دې وړاندې هم خپل اکثر دښمنان او شورشیان د خپلو سیمو جاګیرداران ټاکلي وو او په دې وسیله یې ځینې شورشونه او بې امنۍ له منځه وړې وې. (۳ : ۱۳۳).

د جمال خان منصوبه هم کامیابه شوه او کله چې په ۱۱۲۲ ه ق د کابل د دارالملک ( چې پېښور هم ورسره تړلی و ) صوبه دار ناصر خان وټاکل شو، پېښور ته چې راغی اربابي یې جمال خان ته ورکړه. ده خپلو ناکردو ته دوام ورکړ، ناصر خان ته د ده سوابق او موجوده وضع ټول معلوم وو، د اربابۍ په وخت کې یې د عیسی مومند کلي وواهه، دی د مومندو د یوه زورور خېل ماشوخېلو څخه و، تر دې پېښې وروسته عیسی مومند هم له ناصر خان سره جوړه وکړه. (۳ : ۱۳۴)

بله قرینه دا هم ده چې عیسی مومند د ناصر خان تر صوبدارۍ وړاندې له پېښور نه لاهور ته فرار شوی و او دا هم ښېي چې ده به د مغولو په وړاندې څه کړي وو او ناصر خان به د غچ اخیستلو له پاره جمال خان د ده د کورلوټلو ته هڅولی وي. تر دې پېښې وروسته( ۱۱۲۳ ه ق) کال د جمال خان د زوی د واده کار پېښ شو ناصرخان دوه زره روپۍ هم انعام ورکړې او د واده کار تیار شو. داسې ښکاري چې اوس جمال خان هم یو لوی قوت ګرځېدلی و د مغلو ترې وېره کېده او وهل یې په کار وو. د افضل خان په روایت عیسی مومند د مغولو لپاره ځری ورپسې کړ، د ده د زوی د واده په شپه له لښکر سره روان شو، په کور یې ورغی، جمال چې غافلګیر شوی و د جګړې هیڅ تهیه یې نه درلوده، بیا هم مخې ته وروروت د جګړې تاب یې رانه ووړ. زخمي کور ته ننوت، عیسی یې په کور اور پورې کړ. دی په خپله او د واده اتیا کسه نران، ښځې، ماشومان هم په هغه کور کې وروسره وسوځېدل. (۳ : ۱۳۵).

له دې پېښې نه رحمن بابا برداشت او له دې پېښې سره د رحمن بابا برخورد په بشپړ ډول انساني، عاطفي، سیاسي او مادي اړخونو څخه څېړي او د خپلې انسان دوستانه او په

معنویت ولاړې عقیدې له مخې نتیجه ترې اخلي. د ده بیان او برداشت قدم په قدم په وړاندې ځي او د موضوع بېلابېلې خواوې روښانوي.

ډېر یاران وو د ګل خان او جمال خان

په کار نه شو یو په وخت د زارستان

د همه واړو یارانو مخ دې تور شي

که به څوک وبله یاري کا په دا شان (۲ : ۱۴۳)

د بوللې په دې تشبیب کې د بې وفا یارانو د ابن الوقت دوستانو او د ښې ورځې د ورځ چارو ملګرو غندنه کوي. له دې ډول پښتني او انساني ضد عمل نه کرکه ښیې او دا ډول کار له پښتو او پښتونولۍ نه لرې بولي. بل ځای کې وایي:

هیڅ تعریف یې په دا ژبه وایه نه شي

صد رحمت شه په یارۍ هم د ګل خان

چې په اور کې یو دبل له پاره سوځي

ما لیدلي نه وو هسې مخلصان (۲ : ۱۴۵)

د بوللې په دې برخه کې استثنی کوي او د ګل خان پخه او رښتیني یاري چې د یارۍ حق یې ادا کړی ستایي او آفرین پرې وایي. د پېښې عاطفي اړخ، نوع او ډول ته توجه کوي او د آل او اولاد سوځول چې غېر انساني او حتی د جنګ د شرطونو مخالف عمل دی په ژوره عاطفي ډول غندي:

چې له اله له اولاده سره وسول

خدای دې نه کا څوک دا هسې مظلومان

رحمن بابا د دې غمیزې او ماتم د درنښت له پاره پېښه د نمرود له جنایت سره چې ابراهیم (ع) یې په اور کې سوځولی وو تشبیه کوي او وایي:

د نمرود چارې مې ولیدې په سترګو

چې یې اچول و اور وته نبیان (۲ : ۱۴۵)

دا غمیزه دومره سخته او درنه ده، چې رحمن بابا د قیامت سره ورته ښودلې ده او وایي:

خلک وایي چې قیامت به په جمعه وي

ولید ما په یکشنبه په دا دوران

هزار حیف دی چې دا هسې رنګ چارې

واقع کېږي د دنیا په سود او زیان

سربند نه و ګویا د بنت د کربلا و

چې سېلاب شو د سرو وینو پرې روان (۳ : ۱۴۷)

بیا د یو سپین زړي او معتقد مومن په حیث دا ټول نفس او د شیطان چارې او د تقدیر لیک ګڼي لکه چې وایي:

په عیسي او په جمال کې ګناه نشته

دا مکرونه دي د نفس او د شیطان

عزیزان یې خپله ووژل په خپله

دا همه واړه تقدیر دی د سبحان (۳ : ۱۴۷)

بیا د شاهانو د داسې کړو د ثبوت له پاره د یوه ځیر مشاهد او تاریخپوه په حیث نمونې وړاندې کوي او د خپل وخت له پېښو نه یې د تاریخ لېږې پوړیو او پېړیو ته رسوي.

شاه عالم اعظم وګوره چې یې سخا کړ

په خونونو واړه ملک د هندوستان

ودارا او اورنګزیب وته حیران یم

چې یې څه چارې واقع شولې ترمیان (۳ : ۱۴۸)

په لنډه ویلی شو چې د جمال خان پېښه چې د پښتنو یوه لویه غمیزه وه او په لسګونو انسانان په کې ووژل شو د رحمن بابا په دیوان کې دې پېښې ته په هر اړخیزه توګه لیدل شوي او د تاریخ پاڼو ته یې د شعر په ژبه سپارلي دي.

د رحمن بابا په دیوان کې ډېرو کیسو ته اشاره شوې، په دې برخه کې به د رحمن بابا له دیوانه ځینې بیتونو راټول او بحث به پرې وکړو چې د کیسو یادونه په کې شوې وي.

رحمن بابا په خپل یو شعر کې چې دلته یې یو بیت راخلو د حضرت سلیمان (ع) پاچاهۍ ته اشاره کړې ده او د هغه مرتبه یې بیان کړې ده. ویل کېږي، چې حضرت سلیمان (ع) ته الله (ج) دومره لویه مرتبه ورکړې وه چې تخت به یې په هوا ګرځېده او هر چېرته

به یې چې زړه غو ښتل هلته تللی شو .د دې ترڅنګ د ټولو حیواناتو او پیریانو په خبرو هم پوهېده، چې دا مرتبه یې هیڅ بل پیغمبر ته نه وه ورکړې،نو دلته رحمن بابا د حضرت سلیمان(ع) مرتبې ته اشاره کړې ده او هغه څوک یې بختور ګڼلی چې الله ج ورته لوړه مرتبه ورکړې وي. لکه چې وایي:

مرتبه د سلیمان چې چاله ورشي

هیڅ پوره نیمګړی نه دی په رنګین (۱ : ٦۹)

په یو بل ځای کې د حضرت یعقوب (ع) د زوی حضرت یوسف (ع) تاریخي کیسې ته اشاره کوي.کیسه داسې ده،چې کله د حضرت یوسف (ع) **خبر حضرت یعقوب (ع) ته راغلل چې زوی یې د مصر پاچا شوی او ژوندی دی یعقوب (ع) ډېر خوشحاله شو او د سترګو دید او نظر یې بېرته پیدا شو،چې همدې کیسې ته رحمن بابا په لاندې بیت کې اشاره کړې او وایي چې:**

چې قاصد د ورک یوسف زیری پرې وکا

د یعقوب د سترګو بیا نظر پیدا شه (۱ : ۹۲)

په یو بل شعر کې رحمن بابا د عشق او محبت په اړه د خپل زړه خبره کوي.د همدې شعر په اخري بیت کې بیا د منصور د عشق او دار ذکر هم کوي په لاندې بیت کې د منصور هغې کیسې ته اشاره شوې ده چې کله هغې د خدای په مینه کې ځان دومره غرق او ورک کړ، چې له خولې یې د اناالحق خبره ووته، نو د وخت پاچا هغه په دار کړ او د دار په سر یې هم همدا یوه خبره له خولې ووتله. لکه چې وایي:

ګوره د منصور هسې په دار نه شې رحمانه

مکړه دا د عشق خبرې مستې رندانه (۱ : ۱۰۱)

رحمن بابا په یو بل شعر کې د مجنون کیسې ته اشاره کړې ده چې وایي:

زه لکه مجنون ولاړ په طمعه د لیلا مې

اوس به لیلی راشي پر سپین مخ زلفې شانه (۱ : ۱۰۱)

په یوه بل شعر کې رحمن بابا د قارون تاریخي کیسې ته اشاره کوي.د قارون کیسه په قران کریم کې هم یاده شوې او اشاره ورته شوې ده. لاندې بیت کې د قارون کیسه ده، چې د هغې په اړه ویل کېږي چې خدای ج ډېر زیات مال او دولت ورکړی وو ،ډېر ظالم او مغروره انسان وو او د خدای ج له او امرو څخه یې سرغړونه کوله.په مال او دولت ډېر مین وو . الله (ج)

موقعه ورکړه تر دې، چې ټول مال او دولت یې ورته په سر کېښود او ځمکې ته یې امر وکړ چې د ټول مال سره یې کش کړي.

معشوقه مشفقه بویه مهربانه

نه قارون چې په ځان اسم د حاتم بردي (۱ : ۱۱۲)

رحمن بابا په خپل دیوان کې ډېرو تاریخي کېسو ته اشاره کړې ده. په یو بل بیت کې رحمن بابا د سلطان محمود غزنوي او ایاز کېسه کړې ده. ویل کېږي چې سلطان محمود غزنوي په خپل دربار کې یو تکړه، هوښیار او ځوان مشاور او وزیر درلود، چې ایاز نومېده. تل به یې د محمود سره همکاري کوله تل به یې له ایاز څخه مشوره اخیستله، نو رحمن بابا دې تاریخي کېسې تا اشاره کړې او په خپل شعر کې یاده کړې ده. لکه چې وایي:

سپین رخسار و مشکین خال دې وبله صنم دي

یا محمود او ایاز ناست سره همدم دي (۶ : ۱۸)

په ځینو بیتونو کې رحمن بابا د یوسف(ع) او زلیخا تاریخي او اسلامي کېسې ته اشاره کړې ده. د یوسف(ع) او زلیخا کېسه ډېره مشهوره ده. زلیخا، چې د مصر د بادشاه میرمن وه او هیڅ کله د خپل خاوند سره نه وه یوځای شوې کله، چې یوسف(ع) مصر ته رسیږي او د مصر په بازار کې وپلورل شي، د مصر د عزیز کور ته راوړل شي له هماغه وخته پرې زلیخا مینه شي او تل کوښښ کوي، چې یوسف(ع) وګوري په دې برخه کې زلیخا ډېرې ستونزې او مشکلات ګالي ان تر دې پورې، چې د ستړګو نور یې ختم شي. لکه چې وایي:

که لیدلې زلیخا یوسف په خوب و

ما په ویښه دی لیدلی په خواب نه دی (۱ : ۱۱۹)

زلیخا غوندې به بله شیدا نه وي

که د مصر مستورې شي واړه ټولې (۱ : ۱۴۴)

ما په هجر کې لذت د وصال بیاموند

له یوسفه ملاقي شوم په زندان کې (۱ : ۱۴۴)

د هغو چې خدای حق بینې سترګې ورکړې

د یوسف تجلی وینې په دیوار کې (۱ : ۱۴۴)

و عیب جن ته واړه عیب څرګندیږي

ښایسته که ځان یوسف کا په سینګار کې (۱ : ۱۴۴)

رحمن بابا په خپل دیوان کې یوې بلې تاریخي کیسې ته هم اشاره کړې ده چې هغه د نوشیروان پاچا کیسه ده.د نوشیروان پاچا کیسه په عدالت راڅرخي . ویل کېږي چې یو عادل او مهربانه پاچا وو.همدې کیسې ته په لاندې بیت کې اشاره کوي او خلک انصاف او عمل ته رابولي.

په انصاف په عدالت نوشیروان شې

هر عمل به د خپل ځان په ترازو کړې (۱ : ۱۴۴)

همدارنګه د سکندر مقدوني کیسې ته هم د رحمن بابا په دیوان کې اشاره شوې ده. یونان په (۵ ق م پېړۍ) کې د ایران په یرغلونو او جګړو اخته وو او په(۴ ق م) کې د فلیپ مقدوني باد شاه له خوا ونیول شو.یو کال وروسته فلیپ ووژل شو او د هغه ځوان ځوی د هغه په ځای کېناست.دا ځوان یو قارندوکی او مبارز چې د ارسطو شاګرد وو او په زړه کې یې د قهرمانۍ او د ملک ګېرۍ هوس هم وو په (۳۳۴ ق م) کې د دېرش زره پیاده او څلور زره سورو عسکرو سره چې د څلوېښتو ورځو خوراک یې هم درلوده د ایران په خامنشي دولت یې یرغل وکړ.په دریو جنګونو کې چې په وړه اسیا ،د اسکندریه د خلیج په غاړه او په کردستان او اوسنۍ ترکیه کې وشو ایراني فوځونو ته یې ماتې ورکړه او ورپسې ورغی. سکندر نیولي لوی ملکونه د اباسیند نه تر بحر اراتیک او د مصر نه تر ققفازه پورې د یونان د قدرت طلبه سردارانو په لاس ورغلل او د نړۍ ډېره برخه یې لاندې کړه.(۸ : ۵۴).

رحمن بابا د سکندر د کیسې په راوړلو څخه موخه د خپل ځپلي ملت فکر او عمل ته رابلل دي،چې د غفلت له خوبه بیدار شي او ترقي وکړي.

د سکندر په څیر جهان به در څرګند شي

که سرکوز په آیینه د خپل زانو کړې (۱ : ۱۲۹)

همدارنګه رحمن بابا په خپل یو شعر کې د فرعون یادونه کړې ده (فرعون د ملک ریان نمسی او د پلار نوم یې مصعب وو او دا روایت هم شوی دی چې د ده د پلار نامه مصعب ولید بن ریان وو.د ده عمر څلور سوه کاله وو په دې دومره عمر کې د ده سر هم نه و په درد شوی.او نه ورباندې کوم دښمن کامیاب شوی وو.

په اخر کې یې د خدایي دعوی هم وکړه،نو په دې وجه ورته فرعون ویل کېږي،د دې دعوی نه مخکې ښه تندرست او صحت مند وو خو چې کله یې د خدایی دعوه وکړه ،نو

وجود يې د قسماقسم بيماريو مرکز شو .تر دې پورې چې د ده په وجود کې دوه اويا ناروغۍ راپيدا شوې او د مرضونو ښکار شو .) ( ۷ : ۳۱۴ )

تا چې خپل مخ د فرعون په دود تور کړ

په دې خوی به برابر نه شي له نېکېوه ( ۱ : ۱٦۵ )

رحمن بابا په يو بل بيت کې د حاتم طايي يادونه هم کړې ده .د حاتم کېسه داسې ده چې هغه په ترکيه کې يو ډېر سخي او مهربانه انسان وو او په عربو کې د ډېر شهرت خاوند هم وو . څه يې چې لرل په خلکو به يې تقسيم ول.د نوموړي د سخاوت کېسې او چرچې په ټولو ملکونو کې خورې وې.هر طرف به د حاتم خبرې کېدلې په اوس وخت کې هم کله چې څوک سخاوت کوي ،نو په مقابل کې ورته د حاتم خطاب کېږي،نو همدې کېسې ته يې په لاندې بيت کې داسې اشاره کړې ده

د حاتم په څېر دې ستايي

خطابه در کا سخا ( ۱ : ۳ )

رحمن بابا په خپل ديوان کې د افلاطون او مجنون کيسې يادونه هم کړې ده. افلاطون د يونان يو تکړه او پوه انسان وو .د نوموړي له نظرياتو اوس هم په مختلفو علومو کې ګټه اخيستل کېږي او مجنون هم په عشق کې دومره ډوب وو چې تر ننه يې خلک يادوي همدې دواړو کيسو ته رحمن بابا په لاندې بيت کې يې کتلی شو .

هر چې عاشقي کا که په قطع افلاطون وي

زه خو يې مجنون ګڼم که نن وي که سبا ( ۲ : ۵۷ )

**پايله:** کيسه د بشري ټولنې اړتيا ده.کيسه هغه څه دي،چې انسان ورسره مخ کېږي،کيسه اوري او کيسې وايي.که فولکلوريکه وي او که تاريخي دا د بشر د ژوند يوه نه بيلېدونکې برخه ده او که څوک وغواړي بيا هم نه شي کولی دا برخه د خپل ژوند څخه لرې کړي.دا ،چې د رحمن بابا په ديوان کې ډېرو کيسو ته اشاره شوې ده،نو اړينه وه چې کارپرې وشي او هغه ټولو کيسو ته اشاره وشي چې په دې ديوان کې ليدل کېږي.رحمن بابا د پښتون قوم هغه شاعر دی،چې تل يې د خپلې ټولنې درد په شعر کې رانغاړلی دی او د خپلې ټولنې ناخوالې يې د کيسو په شکل په شعر کې ځای کړي دي.رحمن بابا په خپل ديوان او اشعارو کې ډېرو اسلامي کيسو ته اشاره کړې ده،چې دا ټول د ژوند يوه برخه ده او بايد هر لوستی او نا لوستی ترې خبر شي.رحمن بابا د کيسو الهام د قران پاک څخه اخيستی او زياتره هغو کيسو ته يې اشاره کړې ده چې په قران پاک کې هم ورته اشاره شوې ده،چې ښه بېلګه يې د

یعقوب(ع)کیسه،د یوسف (ع) کیسه،د قارون او فرعون کیسه او داسې نورې اسلامي کیسو ته هم په کې زیاتره اشاره شوې ده،چې په دې مقاله کې ټولو کیسو ته پاملرنه شوې او سپړل شوي دي.

## ماخذونه:


۱ - بارکزی،محمد ظاهر.(۲۰۰۷م). د عبدالرحمن بابا کلیات، پېښور: میهن خپرندویه ټولنه.

۲ - خلیل،حنیف.(۱۳۸۴ل).درحمان بابا کلیات،پېښور :دانش خپرندویه ټولنه.

۳ - رفیع،حبیب الله.(۱۳۸۸ل). رحماني خم،پېښور:دانش خپرندویه ټولنه.

۴ - رفیق،محمدرفیق.(۱۳۹۵ل).دادبپوهنې بنسټونه، جلال کوټ:ختیځ خپرندویه ټولنه .

۵ - زیور،زیورالدین.(۱۳۸۹ل). د پښتو ادبیاتو تاریخ منځنۍ دوره،پېښور:میهن خپرندویه ټولنه.

٦ - شاه ولي.( ۱۳۸۹).خوشحال پېژندنه،جلال اباد : سلام خپرندیدویه ټولنه.

۷ - فاضل،نیاز محمد .قصص الانبیاء پښتو ترجمه، پشاور: رحمن ګل پبلیشرز محله جنګي قصه خوانۍ.

۸ - مومند،سیال.( ۱۹۸۹م). په افغانستان کې مهمې تاریخي پېښې، پیشاور: یونیورسټي اینجنسي.

۹ - هاشمي،سید محی الدین.(۱۳۹۴ل).د نثري ادب ډولونه،کابل: د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست.افغانستان

# د ماسټر عبدالکریم په ځینو نثرونو کې د ناخوالو او ناهیلیو انځورونه

پوهنیار تاج محمد رحیمي

پنجشیر د لوړو زده کړو مؤسسې پښتو څانګې استاد

## Abstract

In this article and research, you will know better about Master Abul Karim as an author and literary personality. We will also discuss the social and political conditions of his time and the violence under occupation,and the life of Pashtuns. Let's discuss, how, in his five fictional literature, we explore the dark and vivid images of the unhappiness and despair of the of the time and present to you the true map of the auther’s works and thoughts.

.

## لنډیز

په دې مقاله کې پردې برسېره چې ماسټر عبدالکریم د یوه سیاسي او ادبي شخصیت په توګه پېژندل شوی د هغه د وخت په سیاسي او ټولبیزو حالاتو او د ښکیلاک تر ولکې لاندې زورزیاتي او د پښتنو د ژوند په ځرنګوالي بحث شوی.د نوموړي په پنځولو داستاني ادبیاتو کې د وخت د ناخوالو او ناهیلیو تت او روښانه انځورونه پلټل شوي او د لیکوال د آثارو او افکارو رښتینیني نقشه ترې تر لاسه شوې ده.

**سریزه :** ادب د ټولنیز ژوند هینداره او ادیب یې سترګې ګڼل کیږي،داسې سترګې چې په ټولنه کې تیریدونکی هېڅ شی د هغه له نظره پټ نه پاتې کیږي،هغه په ټولنه کې له خلکو سره یوځای اوسي،خو هغه څه چې هغه یې درک کوي او په احساساتو او عواطفو یې اغېزې کوي او بیایې نورو ته د تخیل په ملتیا وړاندې یا هغو ته د خلکو ورپام کوي او د ادب په اغېزناکه ژبه یې بیانوي، دا ټول له نورو عادي وګړو سره پوره توپیر لري.زموږ له دغسې سترګورو او حقدارو معاصرو لیکوالو څخه یو هم ماسټر عبدالکریم وچې ګڼ اړخیز شخصیت یې درلود. سیاسي مبارز او د پاچا خان د انجمن اصلاح افاغنه او خدایي خدمتګارۍ د تحریک نومیالی پلوی او لاروی وو چې د خپل ژوند ډېره برخه یې د غې ملي مبارزې او مجاهدې ته وقف کړې وه.کلونه کلونه دپښتنو د آزادۍ او خپلواکۍ لپاره زندان د تورو خونو مېلمه او د بې شمېره کړاوونو په منلو او زغملو یې له هېواد او د خلکو سره مینه د زړه په وینه پاللې او هغه یې په پنځولي ادب کې ځلولې،خپلو هم مهالو او راتلونکو نسلونو ته یې د لارې مشال ګرځولې ده.د ده د علمي او عملي ژوند د سیاسي او ادبي هلو ځلو او د وخت د ناخوالو،،هیلو او ناهیلیو انځورونه دلته د هغه د پنځولي داستاني ادب په ځینو بېلګو کې په تحلیلي بڼه څېړو.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د ماسټر عبدالکریم د ژوند او فن(هنر) په اړه چې تر اوسه کومې خورې ورې لیکنې شوې او خپرې شوې زما په اند هغه زیاتره توصیفي او توضیحي یا تعارفي بڼه لري،د دې لیکنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې تحلیلي بڼه د هغه ژوند او د وخت حالات او په پنځولي ادب کې یې د وخت له حالاتو په اغېز منني،د هیلو ،ناهیلیو او ناخوالو ربښتیني انځورونه د لوستونکو مخې ته ږدي او د لیکوال له فکر، نظراو ادبي او فرهنګي هڅو سره یې ډېر ښه اشنا کوي.

## موخې

د دې څېړنې اصلي موخه په دې کې ده چې د پښتو ن ځوان نسل د خپلو مشرانو له کارنامو او ادبي هڅو ناخبره پاتې نه شي او د ماسټر عبدالکریم په اثارو او افکارو خبر او په پنځولي ادب یې خپله ادبي تنده خړوبه کړي.

## د څېړنې پوښتنې

په دغې څېړنه کې لاندې پوښتنې ځواب شوې دي.

- ماسټر عبدالکریم څوک و؟
- د ماسټر عبدالکریم د ناخوالو او ناهیلیو لاملونه څه وو؟
- د وخت جبر ولې لیکوال د خپل مهال ټولنیز بغاوت ته مجبور کړ؟
- ایا د ماسټر عبدالکریم له لیکنوڅخه د وخت حکومت ویرېده؟
- ماسټر عبدالکریم د پښتو ژبې لپاره څه وکړل؟
- د هغه په پنځولي ادب کې کوم پیغامونه نغښتي دي؟

## د څېړنې میتود

د دې لیکنې بڼه کتابتوني ده. له تشریحي، توضیحي او تحلیلي میتود څخه کار اخیستل شوی دی.

## متن

د خپل بحث پیلامه د ماسټر عبدالکریم د ژوند،آثارو، افکارو او د هغه د وخت د سیاسي او ټولنیزو حالاتو په پېژندنې سره کوو.

## د ماسټر عبدالکريم  پېژندنه او د وخت د سياسي حالاتو شاليد

## پېژندنه

ماسټر عبدالکريم د منتظم خان زوی، د مرکزي پښتونستان د چارسدې په مشهور کلي اتمانزو کې په ۱۹۰۸م کال کې زيږېدلی دی.لومړنی زده کړې يې داتمانزو په ازاد ښوونځي کې ترسره کړې او په ۱۹۳۰م کال کې يې د ډهلي له جامعه اسلاميه څخه يې د ليسانس سند تر لاسه کړی دی.د يادونې وړ ده چې د ماسټر عبدالکريم د پلار نوم په اوسني ليکوال (۱۳۹۳ ل) دريم چاپ ۹۹۵ مخ کې منتظم خان،په لره پښتونخوا کې پښتو لنډه  کيسه نومې اثر کې منظر خان راوړل شوی دی.۱ : ۹۹۵).

همدارنګه د فرهنګ زبان و ادبيات پښتو لومړي ټوک په ۳۲۴ مخ او د اريانا دايرة المعارف شپږم ټوک (دري) په ۳۳۲ مخ کې هم منتظر خان ليکل شوی چې غالبآ به يې همدا بڼه سمه وي.

ماسټر عبدالکريم چې کله له ډهلي څخه راستون شو او په آزاد ښوونځي کې ښوونکی شو او په ماسټر اوځار شو،په همدې وخت کې ورته سياسي فکر پيدا شو او  په همدې کال ۱۹۳۰م  د ازادۍ غوښتنې د فکر په جرم بندي او درې کاله وروسته  ۱۹۳۳م  کې بېرته له بنده آزاد او په آزادښوونځي کې بېرته په تدريس بوخت شو.دا چې عبدالکريم د خدايي خدمتګار خان عبدالغفار خان د ګوند يو  رښتينی ، وفادار او فعال غړی وو،نو په ټولو جلسو او غونډو کې يې له عبدالغفار خان سره اوږه په اوږه مبارزه کړې وه چې ډېر ځله په همدې تور بندخونو ته هم لېږل شوی و.کله چې پښتون مجله له ۱۹۳۸ - ۱۹۴۱م پورې په درېيم ځل پيل شوه،نو نوموړي په همدې مجله کې د سياسي مضمون ليکونکی و او د ( ننني دنيا) تر عنوان لاندې به يې تل پر ورځنيو حالاتو سياسي تبصره ليکله.( ۱ : ۹۹۵ ).

دا چې ماسټر د وخت د جبر او ظلم په خلاف، په ځانګړي ډول د انګريزانو د استعمار مخالف و  او د وخت جبر يې غانده،نو څو څو ځله يې د همدې بغاوت او مخالفت له امله زندانونه او بندونه تېر کړي دي.

عبدالخالق خليق د (رهبر) په مجله کې د ماسټر په اړه وايي  چې (( يوه ورځ چيرته يو څو سرکاري افسران ناست وو،څه خبرې اترې يې کولې،يوه پګښې ووې چې خلق وايی چې انګريزي حکومت په پريس پابندي لګولې ده.زه وايم  چې تاسو د (پښتو) ( ننني دنيا) ولولئ،نو داسي به د جرمن ريډيو پراپيګنده هم نه وي کړې لکه ( پښتون) چې د انګريزانو پر خلاف کوي.په دې مجلس کې د ( سي- اي – ډي) يو هندو انسپکټر هم ناست و،د هغه غوږونه لک شوو، ژر يې د ( پښتون) پرچه راوغوښتله او د هغې انګريزي ترجمه يې وکړه او ګورنر ته يې ولېږله)). ( ۱ : ۹۹۶ ).

## د وخت سياسي حالات او د ماسټر ليکنې

په دې وخت کې حالات دومره خراب وو چې د وخت والي يا ګورنر يو ځل بيا د پښتنو له وېرې په ( پښتون) مجله باندې بنديز ولګاوه.د ښاغلي ماسټر ليکنې دومره سټغې وې چې لږې ورځې وروسته يې بيا زندان ته ولېږوه.کله چې ماسټر عبدالکريم له بنده خوشې شو،لږې ورځې وتې نه وې چې خلکو د وخت د انګريز او پنجابي استعمار او ظلم پر خلاف بغاوتونه شروع کړل چې د همدې بغاوتونو له امله يو ځل بيا انګريز حکومت په ۱۹۴۲م کې ماسټر بند ته ولېګاوه.په (۱۹۴۵م) کال چې کله ډاکټر خان صاحب  صدراعظم شو،نو د نورو بنديانو سره يو ځای ماسټر هم له بنده ازاد او په همدې وخت کې په يوه دولتی دنده وګومارل شو.په ۱۹۴۷م کال چې کله پاکستان منځ ته راغی،نو بيا د ازاديخواهۍ او خدايي خدمتګارۍ په ګناه د پاکستان د

وخت ظالم حکومت نوموړی په پنځه کاله سخت او له کړاوونو ډک بند باندې محکوم کړ.پنځه کاله پس چې کله له بنده ازاد شو،یو کال پس (۱۹۵۳م) کې یې یو ځل بیا د (د پاچا خان پیغام) د رسالې د خپرولو په تور پاکستاني نظام نوموړی بندي کړ او دومره سختې او درنې سزاګانې یې ورکړې چې د نوموړي صحت ډېر خراب شو او مسلسل بندیتوب دومره وکړاووه چې بالاخره یې په ۱۹۶۱م کال د جنورۍ په ۱۸ نېټه د پېښور د لیډي ریډنګ په هسپتال کې خپل روح رب ته وسپاره. روح دې ښاد وي.د ماسټر د بندي کېدو تر ټولو لوی لامل همداو چې هغې غلامې نه منله او تل یې غوښتل د پښتنو حقونه د وخت له ظالم نظام څخه ترلاسه او پښتانه له ظلم او جبر څخه ازاد کړي.

احمد شاه بابا وایي:

پر ننګ مړ خو څه مړ نه دی

د بې ننګو ژوند جفا ده

لاس به وانخلم له ننګه

که په ننګ پاتې دنیا ده            ( ۲ : ۹۳ )

## د ماسټر عبدالکریم د لیکنو ځانګړنې

د ماسټر عبدالکریم لیکنې که له یوې خوا رواني او ساده دي،نو له بلې خوا د وخت د ظلم او جبر پر خلاف کلکه او درنه څپېړه ده.د نوموړي لیکنې په رواني لحاظ ډېرې حساسې او په زړه پورې دي.د ماسټر د لیکنو په اړه اجمل خټک وایي : ( زه ماسټر صاحب د ډېرې مودې راېسې پېژنم،خو تر نن ورځې مې دا فیصله نه شوه کولی چې ماسټر صاحب ته ښه پښتون لیکوال ووایم او که یې ښه خدایي خدمتګار وبولم؟.). ( ۵ : ۱۳ ).

د ماسټر د لیکلو ژبه یو بېل خوند او کیف لري،ده خپلو سیاسي لیکنو ته هم ادبي او هنري رنګ ورکړی دی،د خبرو اترو او محاورې په ژبه یې لیکنې کړې دي.نثر یې ساده،روان او د نورو ژبو له اغېزې تر ډېره پاک لیدل کېږي.د ماسټر لیکنې د وخت په خپرونو،په ځانګړي توګه پښتون مجله کې خورې ورې چاپ شوې.ځینې لیکنې یې انګریزي ښکیلاک د ده د بندي کېدو پر مهال د هغه له کوره وړي او ځینې یې په یوه ټولګه کې ((د ځولۍ ګلونه)) په نوم چې زیاتره یې تکلونه او لنډې کیسې دي چاپ او خپرې شوې دي.

مخکې مو یادونه وکړه چې د ماسټر عبدالکریم لیکنې د وخت د جبر پر خلاف یو بغاوت او پاڅون دی،نوموړي خپلې لیکنې د وخت د ظالم نظام او د هغه د جبر پر خلاف لیکلې دي.که د ماسټر سیاسي لیکنې وکتل شي په هغې خو یې تر ډېره بنداو زندانونه تېر کړي دي،خو که هنري نثر یې وکتل شي، په هغه کې یې هم د حالاتو انځورګري کړې او خپل ویده پښتون ملت ته یې د بیدارۍ غږ اورولی دی.که په پښتون مجله کې د ماسټر( ننني دنیا) وکتل شي،نو د وخت سامراج ته یې د سر په کاسه کې اوبه ورکړې دي.چې د همدې سر مقالې له امله د وخت پیرنګي حکومت له نورو پښتنو سره یوځای دوه کاله بندي کړ.د ماسټر ((ځولۍ ګلونه)) نومې کتاب چې لنډې کیسې او تکلونه یې په کې راټول کړي او زیاتره یې په پښتون مجله کې هم خپرې شوي.دلته به د نمونې په ډول له دغه کتابه د نوموړي ځینې لیکنې راوړو او وبه ګورو چې لیکنې یې ولې له ناهیلیو او ناخوالوڅخه ډک انځورونه لري.د ده د یوې لیکنې سرلیک دی: ((لیکوال مړ شو)) چې دلته یې لنډه تحلیلي شننه کوو.

### (۱) لیکوال مړ شو

ماسټر د دغې لیکنې په یوه برخه کې لیکي:

(( قیوم خاني وه،یوه سپیره سیلۍ وه چې په کلي اولس رالوتې وه،د هر څه برکت یې له ځان سره وړی و،خان په خپله خانۍ کې او غریب په خپله غریبۍ کې تنګ و،حیااوعزت، خو قیوم خانۍ لکه چې په کانټه راټول کړي وي،لوی لوی خانان وو،سترې ستې وې،درنې درنې ستاني وې.داسې خلک وو چې شپږ کاله وړاندې به یې اور په خوله کې ووړ،له بریتونو نه یې وینې څڅېدې او په مجلس کې به ورنه چا د خبرې وار نه شو موندی، ولې په قیوم خانۍ کې له هر چا نه دغله مور جوړه شوې وه،د کونډو په شان به یې ځانله ژړل....)). ( ۶ : ۲۳۶ ).

دا د یو لیکوال د ژوند کیسه ده چې هغه د خدایي خدمتګار تحریک او مبارزو غړی و،خو چې کله یې په ولس باندې دغه حالات راغی چې د کیسې لیکوال یې د ناخوالو او ناهیلیو انځور په کیسه کې پوره بیان کړی،نو سخت خفه شو او د پاکستان له رامنځ ته کېدو سره سم په دوی ظلم او وحشت شروع شو.په پورته کیسه کې یوه ټکي ته چې په زغرده اشاره شوې، هغه د قیوم خان د وخت ظلم او ستم دی چې لیکوال یې په ښکاره ټکو بیانوي او د خلکو ناموس،پت او عزت ته په دغه توره دوره کې زیات زیان رسېدلی دی.د قیوم خانۍ دور د پښتنو لپاره یوه توره دوره او له سختو کړاوونو او ستونزو ډکه مرحله وه.هلته غریب،خان څمکه وال او بې روزګاره ټول د خدای په عذاب اخته وو او قیوم خانۍ ترې هر څه وړي وو.په لیکنو بندیزونه ولګېدل،سختۍ او خوارۍ په خلکو راماتې شوې.شپږ کاله پس چې لیکوال له سختو کړاونو او جیلونو څخه کور ته راغی واک اختیار ټول له ولس څخه پولیسو او حکومت اخیستی وو او څه ډول ظلم او ستم یې چې خوښه وه ،هغه به یې پرې کول چې ماسټر د خپل وخت دا ظلم په همدې کیسه کې ټول بیان کړی دی.

## ( ۲ ) پاکه پانړه

د پاکې پاڼې تر عنوان لاندې دماسټر عبدالکریم یوه بله لیکنه چې دا هم ډېره روانه او ساده ده،په هغې کې یې د وخت د حالاتو ، ناخوالو او ناهیلیو انځور داسې کښلی :

(( که مقدمه ګټې نو قاضي صاحب باندې یې نوش کړه،که مړی بخښې نو ملا صاحب ته یې هبه کړه،په ګواه باندې یې اوڅښه نو د محکمې په وړاندې به درته په دروغو ګواهي کوي،پاکستان دې قیوم ته دعا کوي،د ووټ د خاوند قدر یې ورک کړو،ووټر خبر هم نه وي او ممبر جوړ شي،ګ چې د ووټ د خاوند تپوس به کېدو نو دې د نر بچي به په یوه پیاله چایو صدارت څه چه نیغ د وزارت کرسۍ ته سړی رسولو او لکه د تانې د خان خېلو به یې روغه لاندې ډله باندې کړه.)) ( ۷ : ۹۵ ).

## لنډه شننه ( تحلیل)

په پورته کیسه کې هم د پاکستان د رامنځ ته کېدو او د قیوم خانۍ د ظلم او ستم خبره ده،په دغه وخت کې د رشوت،بډو او ناروا کارونو کچه دومره لوړه شوه چې خلک یې تر پوزې راوستل.په پښتنو ظلم شروع و. یو پښتون یې په بل واهه ،ټکاوه او وواژه.په خلکو کې یې کرکه،نفرت او بې اتفاقي دومره زیاته کړه چې پښتانه یې په خپل غم اخته او خپله یې پرې حکومت او راج کاوه.په پورته کیسه کې د انسان قدر نه و، که چا به رشوت او بډې ورکړې، هغه به محکمه کې هم مخکې وو،قاضي به هم له رشوت خور سره و،پولیس،حکومت او واکمن د هغه چا په طرف وو چې بډې او رشوتونه به یې ورکول چې دا هم د ماسټر د ناخوالو یو انځور دی چې په خپلو لیکنو کې یې وړاندې کړی.

## (۳) د خوارو خواره برخه

دا د ماسټر د یوې بلې لیکنې سرلیک دی چې په دې کې د خپل خوار اولس له درد او کړاوه ډک انځور وړاندې کوي او د وخت د ظالم نظام له ظلم څخه یې پرده پورته کړې ده.لیکوال په یوه برخه کې لیکي:

( ( د مسلم لیګ لیډر لا د اسمبلی ممبر د چا وزیر په صلاح سترګې په بده اووهي او د چا پاتې کور خپلې هجرې سره شامل کړي،لا د چا په لارۍ موټر خېته ور واچوي ،نو حکومت شته دی،تپوس به یې اوشي..))

د ګول باغ چوک کې د لرګي یوه تخته نښخه وه،دا لیک پر د پاسه ښکل وو(( مهاجرین د پاکستان دروند امانت دی او د خدای ج مېلمانه دي،دوی به ښه پایلې ځایول غواړي ګنې خدای به رانه ناراضه شي)). او زیاتوي:

((مشتاق اوړاندې ښځه او لور ورپسې دي، چوک ته اورسېدل. دې ځای نه یوه نېغه لار د اباد کارۍ دفتر ته تللې وه،د کوم ځای نه به چه د پاکستان امانت او د خدای ج مېلمانه ځای ځای ته رسېده،مشتاق خپل د خدای ج مېلمانه ( ښځه او لور) د لرګي د تختې لاندې د خدای ج په اسره پرېښوده او ده د اباد کارۍ دفتر ته روان شو...دی لا پناه شوای نه وو چه پولیس په ګشت را اووت،بلقیس او نیلو یې د سوالګرو په تور توره دار کړل او خوا پورې تانې ته یې بوتلل تانه دار ورله ډېره زوورونه ورکړه او ویل یې په ازادو ملکونو کې سوال کول جرم دی....خو کله چې مشتاق بې چاره بېرته نا امیده راستون شو او چوک ته راورسېده،نو پولیس د خدای ج مېلمانه ښه پاللې ځای کړي وو او د پاکستان د امانت د تانې په حوالات کې د غل غدو وېره هم ورکه شوې وه...)).( ۸ : ۱۸۴ ).

### لنډه شننه

په پورته کیسه کې ماسټر عبدالکریم د هغه پاکستان ذکر کړی چې پښتنو ورته بې شمېره قربانۍ ورکړې،د هغه له ظلم څخه یې پرده پورته کړې چې پښتنو یې کله تصور هم نه شو کولای.په پورته کیسه کې مشتاق نومې سړی چې له ډېرو ناخوالو او کړاونو څخه مجبور شوی او د ډهیلي په لور روانېږي، هلته یو عادي ژوند پیل کوي،خو د وخت جبر او ظلم نومړی دې ته اړباسي چې بېرته راستون شي او له خپلو خلکو سره ژوند وکړي،خو خپل خلک یې مېرمن او لور د سوالګرو په تور په بندخونه کې بندي کوي.دلته په دې کیسه کې د پاکستان هغه انځور هم وړاندې شوی چې له جوړېدو را په دیخوا یې له پښتنو سره څومره ظلمونه کړي او رنګ رنګ تکلیفونه یې ورته رسولي دی.د ماسټر عبدالکریم په لیکنو کې د ناخوالو او ناهیلیو ډېر انځورونه لیدل کېږي،نوموړي خپل وخت د خپل ولس د بقا او هوساینې لپاره وقف کړ او تر مرګه یې خپلې سیاسي او هنري لیکنې جاري وساتلې،څو د پښتنو بخت راویښ او یوه ورځ په ارامه او خوشحاله فضا کې ژوند وکړي.چې ښه مثال یې ((لیکوال مړ شو )) لیکنه ده چې د خپل ژوند وروستۍ برخې یې په کې ښې انځور کړې او خپل ژوند یې د خپل ولس لپاره وقف او قرباني کړ.د پښتو معاصرو داستاني ادبیاتو لیکوال د ماسټر عبدالکریم د لیکنو په اړه داسې وایي : (( اروانښاد ماسټر عبدالکریم په خپل وخت کې ډېرې ښکلې کیسې ولیکلې.په خپلو کیسو کې د خپل وخت او د خپل چاپېریال ډېر ژور ټولنیز او سیاسي مسایل ځای کړل.).( ۹ : ۱۳۲ )).

دا چې د ماسټر عبدالکريم ليکني له ناخوالو او ناهيليو ځخه ډکې دي او هر انځور يې د خپلې ټولني له بدبختيو څخه جوړ کړی دی،نو ځکه خو يې د نثر په اړه اسدالله غضنفر وايي چې: (( ماسټر عبدالکريم د پښتو نثر لوی محسن دی،مګر د نثر سبک يې د کيسو لپاره مناسب نشو بللی.)) په هر حال ماسټرعبدالکريم د پښتني ټولني هغه ليکوال دی چې په ډېرو کړاونو او ناخوالو سره يې د خپلې ټولني درد او ستونزې د قلم ژبې ته راوستې او د کتاب پرمخ يې خپل ولس او ادب ته ډالی کړې. ( ۱۰: ۷۲ ).

## پايله:

که د ماسټر عبدالکريم په ليکنو کې د وخت د ناخوالو،هيلو او ناهيليو د پلټني او څېړني په اړه د بحث دا خوروه وره لمنه راونغاړو،نو د پايلې په توګه ويلی شو چې د نوموړي ټولې ليکنې د وخت د ناخوالو په زړه پورې انځورونه لري او په هره يوه کې داسې پيغامونه نغښتي چې د پښتون ولس د غفلت له درانه خوبه راويښوي او د انګريزي ښکيلاک او د هغه د ځای ناستي (ظالم حکومت) په وړاندې يې مبارزې او مقابلې ته هڅوي.دغه ليکنې په واقعيت کې موږ ته د هغه وخت د حالاتو ډېر روښانه او تت انځورونه په داسې بڼه راوړاندې کوي چې لوستونکی فکر کوي چې دا هر څه د سر په سترګو ويني،په واقعيت،ساده ګی،روانی او عامه پوهاوی د ماسټر صاحب د ليکنو تر ټولو غوره ځانګړني دي،هره ليکنه يې بې شمېره ادبي او هنر ي ارزښتونه لري او په بيا بيا لوستلو ارزي،خو د ليکني لنډ تنګ چوکاټ ته په کتنه اړ يو چې په دې لنډې ورته د پای ټکی کېږدو :

ستا د ښايست ګلونه ډېر دي

ځولۍ مې تنګه زه به کوم کوم ټولومه

## ماخذونه:

۱- عبدالروف بېنوا،اوسني ليکوال( بشپړ متن)،د مطيع الله روهيال په ترتيب او زياتوني،صداقت خپرندويه ټولنه کندهار،۱۳۹۳ ل،۹۹۵ مخ.
۲- عبدالروف بېنوا،اوسني ليکوال( بشپړ متن ،۹۹۵ مخ.
۳- عبدالروف بېنوا،اوسني ليکوال( بشپړ متن)، ۹۹۶ مخ.
۴- حبيب الله رفيع،د احمد شاه بابا ديوان،دانش کتابتون قصه خواني- پېښور،۱۳۷۸ ل،۹۳ مخ.
۵- ماسټر عبدالکريم،ځولۍ ګلونه،اداره رهبر،پېښور،۱۹۵۷م ،۱۳مخ.
۶- ګل غوټۍ خاورۍ،په لره پښتونخوا کې پښتو لنډه کيسه،د څېړنوالۍ علمي رتبې اثر،۱۳۹۷ ل،۲۳۶مخ.
۶- ماسټر عبدالکريم،ځولۍ ګلونه،ليکوال مړ شو( کيسه)،اداره رهبر: پېښور،۱۹۵۷ م کال ، ۱۴۷ مخ.
۷- ماسټر عبدالکريم اتمانزی،ځولۍ ګلونه،دانش خپرندويه ټولنه،پېښور،۱۳۸۵ ل.مخ ۹۵
۸- ماسټر عبدالکريم،ځولۍ ګلونه، ،۱۸۴مخ.
۹- زرين انځور،پښتو معاصر داستاني ادبيات،د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه (جرمني): ۱۳۹۳ل ، ۱۳۲مخ.
۱۰- اسدالله غضنفر،د نثر ليکلو هنر،مومند خپرندويه ټولنه،ننګرهار ،۱۳۹۱ ل،مخ ۷۲